Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړګې تړګې

د

پیر محمد کاروان

د لنډو کیسو لومړی مجموعه

خپرندوی

د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : له نرگسه تر نرگسه

لیکوال : پیر محمد کاروان

خپرندوی : د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه

د خپرونو، نومره : ۷

د خپرویدو نیټه : جوزا ۱۳۷٤ هـ ش (جون ۱۹۹۵ ع)

چاپ ځای : لاهور

تیراژ: : ۱۰۰۰

د کمپیوتر سمبالوونکی: اجمل سنگریار

د پشتنی انځورگر : استاد پاوند

بیه : ۲۰ روپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهـــداء:

ـ دایمل پسرلي په نوم چې د لندن په ماښامونو کې یې د پښتو ادب (ډیوه) بله کړې ده.

ـ زما د ادبي بنډارونو د ډیرو خوږو ادیبانو لیکوالو او شاعرانو ملګرو هر یوه.

نور الحبیب نثار، باز محمد عابد، حنیف خلیل او مصطفی سالک په نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه جونګ کې

نوم	مخ
توکل پر خدای (د سریزې پر ځای)	الف- ب
وروستی نښه	۱
زرکه	۵
شپونکی	۸
د مستوکټوه	۱۱
تشه ځولی	۱۷
زنځیرونه	۲۱
د سپین شیطان په غیږ کې	۲۶
تنکی ځانګه	۳۶
دوه دالماسو غمي	٤۱
له نرګسبه تر نرګسه	٤۵
رنګینه ورکه	٤۹
لښته	۵۳
دلر کلي ملنګ	۵۷
عاشقانه لیکونه	٦۱
د پرښتې دلاس غوټه	٦۸
دوه تک سپین مرغان	۷٤
سندرې او مرغلرې	۷٦
د کوه قاف دیوان	۷۲

بسم الله الرحمن الرحيم

توکل پرخدای

لوستونکي به حیران شي او وایي به چې ستایې له لنډو کیسو سره څه؟ رښتیا هم زما یې له لنډو کیسو سره څه؟ د شعر له سندریزې ښاپیرۍ سره څه ناڅه دیارۍ تار لرم او ددې کوډ ګرې ښاپیرۍ مینې مې په زړه کې ځای نیولی دی. دلته پر ماهم د هغه سخاوت مند مین کانه شوې ده چې هر ښکلی پر لارد ورشي او څه لږ او ډیر د زړه وړلو (دلبرۍ) په چم پوهیږي دی به د زړه ست ورته کوي. که څه هم په زړه کې یوه مینه ځاییږي خو راځئ رښتیا به درته ووایم:

زه نه پوهیږم کله چه د لنډې کیسې پر (شهرزاد) مې سترګې لګیدلې دي خدای شته چې سترګې مې ورباندې خوږې شوې دي. ما داسې انګیرلې دده چې د کیسو د یو زړاویو شپې اتله (شهرزاد) هم هماغه د شعر سندریزه ښاپیرۍ ده چې د نثر ساده جامې یې اغوستې دي. په زړه کې مې ویلې چې راځه له دې سره هم د یارۍ تار وغځوه.

د خپل زړه مې ومنل او د لنډې کیسې له دې ساده ښا پیرۍ سره مې چې په هره ساده ګۍ کې یې سل نیرنګونه پټ دي مینه پیل کړه. دا چې راته خندلي یې دي که را باندې خندلي یې دي، په دې زه هم نه پوهیږم. په دې به هغه نندارچیان وپوهیږي چې یوه شیبه مو وڅاري او ننداره مو وکړي.

هغه څه چې په دې کتاب ګوتې کې یې د لنډو کیسو په نوم لولئ، زه هیڅکله دا دعوه نه کوم چې د لنډې کیسې په تله پوره دي. د یوې بریالۍ لنډې کیسې لیکنه ماته د خونکار پاچا د لور شمایلې شرطونه ښکاري چې تر سره کول یې ډیر هنر غواړي. په دې لیکنو کې مې فقط او فقط له ځینو پیښو سره مینه ښودلې ده. هغه پیښې چې د شعر په نازکه غیږ کې مې نه شوې ځایولی په دې ډول لیکنو کې مې ځای په ځای کړې. زه په دې باوري یم چې د کتاب ډیرې

لیکنې به د لنډې کیسې ترڅنګ هم نه وې تیرې شوې خو سره له دې نیمګړتیاووزه نه پوهیږم چې خوند به یې څنګه وي؟ که خوند یې هم ښه نه وي بیا خو وای زما پر حال! او که خوندیې ښه وو بیا خو راته ووائی ځکه داسې ډیرې نورې مې هم په زړه کې غوټه کړې دي چې بیا خو یې راوسپړم او پر تاسویې هم وګورم.

ددې کیسو ته ورته لیکنو اتلان هغه څیرې دي چې له نن نه واخله د تیرو څو کلونو د پیښو په بهیر کې مې له نژدې نه لیدلې، پیژندلې او څارلې دي. په ډیره مینه مینه مې غوښتي چې د کیسو د اتلانو څیرې د دوی له پیښو سره ښکلې انځور شي. که په ډیرو ځایونو کې د اتلانو او پیښو انځورونه تت راغلي وي ګناه به زما وي، د پیښو او اتلانو ګناه به نه وي. دا زما له لیکنو سره لیونی مینه وه چې د شعر تر څنګ داسې څه هم ولیکم. مینه خو نازولې وي او پر نازولو خو څوک ظلم نه شي کولی. که په خپلو دې لیکنو کې ډیر بریالی نه یم نه به یم. مینه او ناکامي هم څه ډیر سره لري نه دي، خو پر دې هم باوري یم چې د ناکامۍ پر للمه د بریو د باران او ګلونو کلي ته لاره تللې ده. دا زما ددې ډول لیکنو پیلامه و بولئ اوس به ښه نه یم که ژوند و، ورو، ورو به ښه شم.

وروستۍ خبره زما د لیکنو یا په بل عبارت زما د لنډو کیسو د خپرولو ده. که د ایمل جان مینه او پیرزوینه نه وای، که ددوی معنوي او مادي مرسته نه وای، بیا خو زه چیرې او د کتاب خپرول هغه هم د لنډو کیسو کتاب. د کتاب له خپرولونه وړاندې زړه نازړه وم ویل مې چې خلک (نقادان) به څه وایي ؟! د ایمل جان له مینې نه یوه دنیا مننه چې د کتاب په خپرولو کې یې زما زړه غټاوی وکړ او دا دی له نرګسه تر نرګسه خپروم.

توکل پر خدای.

خلک دې هر څه هر څه وایي...

په ډیره مینه او په ډیرې عاجزۍ.

کاروان، پیښور ۱۳۷٤/۳/۱۵ 1995/6/5

(c) Tetabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 5388

وروستی نښه

ډېر راته ګران و. ملګری چاته نه وی ګران! له هغه سره مې ډېرې خاطرې تړلې وې. زه پر هغه بیخي مین شوی وم. څومره ښکلی و، غټې غټې قهوه یي سترګې په دنګه غاړه ښایسته وریښمین دسمال، ښایسته اندام. چې په مینه به مې ورته وکتل نو خوله به یې راوړاندې کړه او ما به ښکل کړ. دښکلا په څنګ کې زما دژووند لپاره ګنور هم و. زه او هغه دډېرو سختو لارو ملګري وو. زه هغه ته ډېر ګران وم. که به مې چالاکي ورسره وکړه هم نه رانه خپه کیده. په کومو لارو کې به چې دماینونو خطر و دی به مې مخکې کړ او زه به وروسته ورپسې روان شوم. ما به دده په پلونو کې پلونه اېښودل چې دماینونو له خطرنه وژغورل شم.

ما او ده په ګډه زموږ دکور اړتیاوې پوره کولې. ډېرې شپې مو یو ځای په واورینو غرونو کې تېرې کړې وې. زما غوندې سړیچن نه و، په یخ ژمي کې به مې لوڅ کړ او دده په کالیو کې به زه اوده شوم. ډېر به دده دګرمې سینې په خواکې اوده کیدم. کله کله به مې دده پرځنګانه سر ولګاوه. دسپوږمۍ په سپینو وړانګو کې به مې دلوړو غرونو ننداره

کوله. هغه لرې لرې غرونه چې دورځې به یې زه او دی په مزل ستړي کړي وو سره نژدې شوي به وو. دیو اوبل په غېږ کې به یې سرونه ایښي وو او له یو بل سره به یې مینه کوله.

څومره ښکلي بریښېدل لکه دیوه ښه انځورګر د تابلوګانو نندارتون. ده به هېڅ غږ او غوږ نه کاوه. خدای خبر چې ستړی به و او که به یې زما شاعرانه خیالونه نه رنګول. په دې ښکلو خیالونو کې به خوب یووړم. ټوله شپه به مې خوږ خوب وکړ. عجیبه هوښیار و. کله به چې سپېدې وچاودې نو سر به یې زما په غېږ کې کېښود. ددې لپاره چې راباندې ناوخته نه شي راویښ به یې کړم. زما سترګې به له خوب نه ډکې وې، له ډېرې ستړیانه به مې هډوکو درد کاوه. غوسه به راغله او پر مخ به مې سخته څپېړه ورکړه خو دده په څېره کې به مې یوه زړه غوسه هم ونه لیده. زړه به مې پرې وسوو. دهغه پر دنګه غاړه به مې غېږ وګرځوله او ښکل به مې کړ.

له ډېرو ښو عادتونو سره یې یو بد عادت هم لاره. دده یوازې زما سره جوړه وه او یوازې ماته رام و. دبل چا سره یې پر لاره دتګ زړه نه کیده. یوه ورځ زه سخت رنځور شوی وم، زما ملګری زما د پلار سره ملګری شوی و. دوی دواړه ښار ته تللي وو، په ښار کې مې پلار ښه ډېره سودا اخیستې وه. دسودا ټول پېټی یې زما ملګري پر اوږه کړی و. داځل دده سترګې دمینې پر ځای له غوسې نه ډکې وې. پلار مې دده په طبیعت نه پوهیده.

په آسمان کې ناڅاپه الوتکې راغلې. الوتکو یوه دوره وخوړه او په دوهمه دوره یې بمونه وغورځول. زما ملګری دبمونو له اوازه وویریده او دځنګله پر لوري یې منډې کړې. زما د پلار پرغږونو یې ځان ونه پوهاوه. دڅېړیو پر ځنګله ورننووت. پېټی یې له اوږې ولوېده.

په هغه ورځ ددوی نه راتلو ماته اندېښنې راواچولې. دېر خپه

وم چې زما پلار اوزما ملگری ولې نه راځي خدای دې نه کړي چې څه بده پېښه نه وي شوې؟لمر دلویدیز پر غرونو لانه وپنا شوی چې دوی راورسیدل . زه مخې ته ورغلم . له پلار سره مې لومړی ستړي مشي وکړه .پلارمې ډېر ستړی معلومیده ، ماهم ډېرې پوښتنې ترې ونه کړې . زما دملگرې بڼه بدله وه . په خولو کې لوند خیشت و . دغاړې وریښمین دسمال یې شکیدلې و او غاړه یې نوکارې نوکارې وه . په غټو غټو قهوه یې سترگو کې یې اوښکې پنډې وې . ډېر سخت زړه مې پرې وسوو . خوله یې راوړاندې کړه خوما دخلکو له شرمه ښکل نه کړ .

کله چې زه له رنځ نه ښه شوم بیا زما اودده ملگرتیا شروع شوه . بیا تور غرونه، سپېرې دښتې وې او زموږ مزلونه .په سرو گرمیو کې به موشپه ورځ مزلونه کول . یوه ورځ په سره غرمه کې راروان وو ، دواړه په خولو کې خیشته پیشته وو . زه ښه وم خودده پښې سستې شوې وې او په څه خواری کورته راورسیدو . زه ډېر سخت وږی شوی وم خو ده هېڅ شی ونه خوړل . دده زړه گرمی خوړین کړی و. درې ورځې یې هېڅ شی ونه خوړل پر څلورمه ورځ یې کنډوکې کنډوکې وینې قی کړې او دژوند دروند پېټی یې له زخمي اوږې نه کوز کړ .

دده په مرگ ډېر سخت غمجن شوم ، ځکه چې ډېر ښا یسته و ، ښه او وفادار ملگری مې و ، له هر څه نه زیات داچې زموږ دکورنۍ ساتونکی و .ما ډېر چورت وهلی و ، دده ځای په اسانه نه ډکیده. دداسې ښه ملگري او ښه خدمتگار د پیدا کیدولپاره ډېر تاوان ته اړتیا وه . موږ باید یوه لنگه غوا او یو دقلبې غوایی خرڅ کړی وای . دې هرڅه زه ځورولم . دده پر مرگ مې یو ه غمجنه مرثیه وویله . دا مرثیه به مې هر چاته اوروله . په دې مرثیه ډېر داسې کسان هم پوهیدل چې هېڅ له شعر اوادب نه نه ووخبر. هغوی زما دملگري ټول خویونه لیدلي وو .چې دملگري مرثیه به مې چاته اوروله نو هغوی به ډېر خپه شول . دمرثیې په

پای کې به ما وخندل . رښتیا به درته ووایم چې زما دا خندا به له ژړانه هم ترخه وه . ماوې که چېرې زه هم دمرثیې له ویلو وروسته ونه خاندم نو هغوی به وایي چې دی دومره خپه اووار خطا دی ؟!

ماته له خپل ملګري نه دوې نښې را پاته وې . دهغه یوه نښه چې مادي ګټه یې لرله هغه مې ښه سمبال کړه .بله نښه چې مادي ګټه یې نه لرله همداسې په خاورو کې پرته وه.

یوه ورځ مې دخپل ملګري پر خاورو پرته نښه ولیده . دهغه غټې غټې قهوه یي سترګې مې سترګو ته نېغې ودرېدې .لکه چې په مرګ یې هم له مانه مینه او پیرزو ینه غوښته . تېرې شېبې مې پر زړه را ووربدې ، هغه شېبې چې خوله به یې دښکلولو لپاره را وړاندې کړه او ما به په مینه مینه ښکل کړه . زړه مې پرې وسوو . دخپل ملګري په وینو سره نښه مې را واخیسته او دهغه کنډو پر سر مې ښخه کړه چې مازدیګر مازدیګر به زما ملګري دخپلو ښکلو اندامونو او قهوه یي سترګو ننداره راته جوړوله .

څو ورځې وروسته مې پلار زما دملګري دوروستۍ نښې د خرڅولو وویل. وې یې چې ښارته یې یوسه ، خرڅه یې کړه او پر پیسو یې ګوره او چای راوړه . په زړه کې مې وویل :

ــ خدای دې وکړي چې ډېرې پیسې پرې وشي چې دګوړې او چای په څنګ کې کتابونه هم پرې واخلم . دخپل ملګري وروستۍ نښه مې پردکاندار باندې په ډېرو پیسو خرڅه کړه . دګوړې او چای تر څنګ مې کتابونه هم پرې واخیستل . زمادسورکې اوښ څرمن څومره بختوره وه.

خیبر پلازا پېښور ۱۹۹۱/۳/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرکـــــه

بیا یې دخپلوورو بچو له پاره په سره مښوکه کې څه راوړي وو، چې بچي یې ماړه شي، رالوی شي، مستې غاړې ووهي، خرامان خرامان وګرځي، په مینه مینه الوتنې وکړي او دغونډۍ ښکلا زیاته کړي.

ډیره خوشحاله وه. له لږې الوتنې وروسته به په سرومنګولو خرامانه خرامانه روانه شوه. خپلو بچوته یې تلوسه وه او خپل مین ته یې مینه وه. لاغونډۍ ته نه وه رارسیدلې چې موسکۍ بڼه یې ویرجنه شوه. غونډۍ په تورلوګي کې پټه وه. دغونډۍ تکې شنې ونې سوځیدلې پرتې وې. دغونډۍ ډبرې توتې توتې وې. لالهانده وګرځیده، خپل مین او خپل واړه بچي یې ونه موندل.

اوس هم دخپل مین په یاد په غونډۍ کې یوازې ګرځي، الوتنې کوي او دغم کوکارې وهي. له غونډۍ نه چاپیره طوافونه کوي، له غونډۍ سره یې ازلي مینه ده، ځکه چې په دې غونډۍ کې زیږیدلې ده. یووخت دژمي په یخنۍ کې تودوملکونو ته مهاجره شوې وه، خوبیا یې هم نوموړې غونډۍ یاد یده. کله چې پسرلی شو، نودزرکو په یوه لوی سیل کې نوموړې غونډۍ ته راغله.

زرکه اوس پیغله شوې وه . په سرومنګولوبه خرامانه ګرځیده. په مستونارو کې یې مینه ګډیده . هغه دمینې په لټون وه او دتنهایئ ژوندخوندنه ورکاوه.

یوسهارپه یوه خواره اوازدنازله خوبه راویښه شوه. ګوري چې دغونډۍ دیوې لویې ډبرې پرسریومست اوښایسته زرک ناست دی. داسې مسته غاړه وهي ،چې تولې غونډۍ ورته غوږ غوږده . دزرک له مستونارونه مینه وریږي . ته به وایې هغه هم له خپلې تنهایئ نه په عذاب دی. جوړۍ غواړي، او یوداسې همرازغواړي، چې دزلمیتوب ډک زړه ورته تش کړي. یوځای ورسره والوزي اوپه غبرګو غاړوکې دمینې سندره ورسره غبرګه کړي.

مست زرک پرله پسې غاړه وهله . خدای خبر، چې دزرک په خوږو ناروکې څه جادوګډو . زرکه په ځان هم نه وه پوهیدلې ، چې په خرامانو قدمونو دمست زرک خواته روانه وه او بیاله زرک سره دلویې ډبرې پر سرغبرګه ناسته وه او دواړو دیوبل په بنکوکې منبوکې وهلې.

دواړودمینې تړون وکړاو ترنوموړې ډبرې لاندې یې دمینې ځاله جوړه کړه. دډبرې پر سریې غبرګې غاړې ووهلې. ډیرځله یې غونډۍ په خپلو غبرګو غاړومسته وساتله . دغونډۍ په شاوخواکې یې دمینې الوتنې وکړې ،دخپلې مینې داستان یې دغونډۍ هرې ډبرې اوهر بوټې ته ورساوه .اوس هم زرکه دخپلې مینې ځای ته راځي ، هغې ډبرې ته چې دهغې پر سریې له خپل مین سره غبرګه غاړه وهله، خواوس هغه ډبره ذرې ذرې ده. زرکه دغم کوکارې وهي ، ګوندې خپل مین او خپل بچې پیداکړي.

اوس له زرکې نه خرامان قدمونه هیر شوي دي . که کوم شاعر دهغې تکې سرې سترګې ولیدې غمجن به شي ، او دهغې لیلاله سترګوسره یې نه شي تشبیه کولی ، چې دخپل مین په وصال سیرابې وې

. اوس دزرکې له سرو سترگوسره بل ډول تشبیه تړلې ده ، اوس دزرکې تکې سرې سترگې دهغې محبوبې سترگوته ورته دي چې « یا یې یار مړوي یا یې ډیرژړلي وینه »!

اوس دزرکې له مستې غاړې نه دمستو ترانو پر ځای دویر ترانې راځي . دغونډۍ پر هره ډبره او هر بوټي نارې وهي ، دغم نارې . په دې ناروکې دخپل مین او خپلوبچوویرنه« مرثیه » غونډۍ ته بیا بیا ور اوروي. دغونډۍ پرسرداوسپنې شاهین الوتنه کوي. زرکه کنه شوې ده ، داوسپنې دشاهین بوږنوونکی غږهم نه اوري ، یوازې دخپل مین او بچودویر سندره توده ساتې.

تنې دچور کونډې دځنگل لمن ۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپونکی

داسې ښایسته منظره یې په ټول عمر کې نه وه لیدلې. تکه شنه ورشو، دسپینو اوبو روانه ویاله، رنګین ګلونه، ښکلي مرغان. خپلې میږې هم بدلې بدلې ورته ښکاریدې. خپله ماشومه لور غوټۍ ورته ډیره ښایسته بریښیده. لکه د پرښتو تکې سپینې جامې په غاړه، په تورو څنو کې یې سره او ژیړ ګلونه ټومبلي وو. پر شونډو یې خوږه او مالګینه موسکا غزیدلې وه. له خپلو میږو او تکو سپینو وریو سره مشغولیده.

دمور زړه له ډیرې خوشحالۍ نه په درزا شو او ناري یې کړې:

ـ غوټۍ لورې! وه غوټۍ لورې!

غوټۍ یوخوابل خوا حیران وکتل. دمور په لیدو یې غږ کړ:

ـ وای مورې ته دلته څه کوې؟!

دمور غیږې ته یې په منډه منډ ځان ورساوه. دمور له سترګو نه در در، دخوشحالۍ اوښکې راوبهیدې. غوټۍ یې ټینګه په غیږه کې ونیوه او دومره یې ښکل کړه چې مخ یې لکه دګلاب د تنکۍ غوټۍ تک سور واوښت.

ـــ غوټۍ ، زما خوږې غوټۍ ،ته خو زموږ نه ورکه وې . دمیږو رمه دې هم رانه ورکه کړې وه . پلار دې په تا پسې ډېر خپه دی . وږوکی ورور دې ډېره ډېره یادوي ،ستا تکې سپینې میږې هم یادوي. وایي چې غوټۍ خور مې څه شوه ؟چیرې لاړه ؟زما میږې یې څه کړې ؟زه سپوره ډوډۍ نه شم خوړای ، زه شیدې او مستې غواړم ،زه کوچ غواړم . کله یوه بانه کوي او کله بله بانه. ستا په لیدو به څومره خوشاله شي ! پلار به دې څومره خوشاله شي! زرکوه غوټۍ څه چې ځو. راځه چې رمه هم بیایو ، بس دی ډېرې دې وڅرولې ،مړې دي . گوره ! دومره مړې دي چې خپلې گیډې هم نه شي وړای . غوټۍ له خندانه شنه شوه. په ناز او کرشمو یې خپلې تورې څنې څنډ وهلې:

ـــ مورجانې ! زه نه ځم ،خپله رمه مې هم نه بیایم .زه په دې گلونو کې ډېره خوشاله یم . ته ددې ویالې اوبه وڅښه له شربت نه هم خوږې دي. زه له دې خوږو اوبو نه چیرې ځم!

دمیږو رمباړې پورته شوې .وریو په ترپکو ترپکو یو خوابل خوا تېوپونه ووهل .غوټۍ وویل:

ـــ وگوره مورجانې ! دلته زما میږې اووري ډېر خوشاله دي .دلته زما میږې ډېرې شیدې کوي .زه نه ځم . . .نه ځم ،نه ځم ،نه ځم. . . . . .

موریې خپه غوندې شوه .ویې ویل:

ـــ غوټۍ لورې ! ته له موږ نه پرڅه گیله منه یې ؟که ته له ماسره کورته لاړه نه شې زموږ زارې به وچوي.

دمور له سترگو لکه چینه مړې مړې اوښکې روانې شوې. غوټۍ بیا له خندانه تکه شنه شوه. دمور پرمخ اوښکې یې په خپلو وړو او تنکیو گوتو پاکې کړې.

ـــ مورجانې ! ته مه ژاړه ،زه له تاسونه گیله منه نه یم. زه ډېره خوشاله یم.

خپله وړوکې خولګۍ یې دمورپر سترګو کیښودله او مور یې ښکل کړه. په دې وخت کې دغوتۍ پلار غږ وکړ:

ـــ پاڅه! لمونځ دې قضا شو.....داڅه دغم خوب دی چې نه ویښیږې!

دغوتۍ مور کړیکې وکړې:

ـــ غوتۍ! زما جنتي غوتۍ! زما شهیدې غوتۍ! زما وړې شپونکۍ.....!

له کټ نه پاڅیده. ټکری یې پر سر کړ. لکه لیونۍ دبام پرسر وختله. صحرا ته یې وکتل. هغې صحرا ته چې غوتۍ به میږې په کې څرولې. په صحراکې یې دسکې توغندي لویه کنده ولیدله. دکندې له غیږې نه دمیږو وړۍ بادونو همغسې یوه خوا اوبله خوا تښتولې.

۱۳۶۸ کال تنې دوړۍ خیسوره دنښترو دځنګل لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمستوکتوه

گلې گلې غواوې راروانې وې. دغواووپه سترگوکې ویره ښکاریده . په غوجلوکې وږوخوسیورمبارې وهلې. ځنگل ژړا او فریاد ونو پر سراخیستی و. موریې دژړااو فریاد ونواواز وپیژانده . هغه وپوهیده ، هغه په هر څه وپوهیده. په زړه کې یې سرې لیکې تیرې شوې . له جونگړې راووته:

ـ ستا پر مړي مې ودروې ،پر تامې بوره کړې ،نه مې درته ویل چې له هلکانوسره مستي مه کوه.

له ډیره قهره اوله ډیره درده یې وخندل :

ـ خدای خبردی ته به بې غمه ویده شوی وې . پوهیږم... پوهیږم... ببری په یبلو پښوله ځنگل نه راووت .دخپلې جونگړې خواته په منډه ،منډه راته ، دباندوسپویې ژړااو فریادونه واوریدل. سپوورمندې کړې اوحمله یې پرې وکړه . ببري په زوره چیغې کړې:

ـ کورې! کورې ! په پرانگ ودارل شئ !

سپې ورنژدې شول ، ببري په ډیرې چالاکۍ له خپلې نرۍ ملانه ددودۍ دسمال خلاص کړ. وچ سوکړک یې سپوته لرې وغورځاوه. موریې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیره قهره غاښونه ورته وچیچل:

ـ خدای دې په لیونیو سپو وخوره ، چې نه په دم روغیږې ، نه په دارو.

ـ ښه وشول ډیر ښه وشول ، چې زما نصیحتونه دې نه اوریدل . هسې هم خدای سپیره پیدا کړی یې اوس به ... .

ببری په ماته ساه او په سلګیو ، سلګیو جونګړې ته راورسیده . له رسیدو سره سم یې مور په څپیړو کې پټ کړ. په یوه اوبل مخ یې دومره وواهه ، چې د مور څپیړې پرې وسوې. د ببري چیغې بیا په باندې کې خورې شوې . پاڼې د ببري پیغلوټې خورورمندې کړې ، د مور لاسونه یې کلک ونیول موریې له زنې نه ونیوه :

ـ بس دی موري مه یې وهه ، خدای ته ګوره مه یې وهه. مور ته به خدای داسې مکرره (مقرره) کړې وي

موربې له خدایه اوبې له ببري نور څوک لرو ؟

خوریې هم په ژړا شوه. ببري د کلي په لوري منډې کړې :

ـ قسم دی که له تاسو سره یوه شپه هم تیره کړم.

د کلي په لاره روان شو. موریې ښیراوې ورته وکړې :

ـ ورځه خدای دې تری تم کړه. خدای دې په بمونو والوزوه . هسې دې هم زموږ بخت په کاڼو وویشته ، سپیره اوس وچه خوله ګرځه .

پاڼې د مور په خوله لاسونه کیښودل ، په ژړغوني غږیې ورته وویل :

ـ مورجانې ښیراوې مه ورته کوه ، موږ څوک لرو ؟

د پاڼې مور ژړا وا وسلګیو ونیود ، هغه له ډیره درده په ځمکه راولویده ، پاڼې ناري سورې ګډې کړې . د باندوله جونګړونه ښځې راووتې :

ـ څه وشول پاڼې څه وشول ؟ ؟

ـ پر مورمې پیریان راغلي دي.

ګاونډۍ ښځې ورغلې ، د پاڼې مور پر ځمکه پرته وه. یوې ښځې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرپر خپلوځنګنونو کیښود . کلیمه یې ورته وویلې ،لااله الا الله محمدرسول الله .دخدای له پاره مه یې په عذابوئ ، کافرخوبه نه وئ ؟ تورسرې ده ،تاسې به هم خویندې میندې لرئ !

نوروښځوهم کلیمې ورته وویلې ، دپاڼې دمورزړه یوڅه سپک شو ، سترګې یې وغړولې . ښځوورته ویل:

ـ کلیمه ووایه خورې ،دپاڼې مورکلیمه وویله ، ګاونډیوښځوتسله ورکوله، داهرڅه دخدای له طرفه دي ، خدای دې ببری درته ژوندی لري.څه چې له خدایه راپیښیږي په هغې به صبرکوو .

ګاونډیانې یې چې خپلو جونګړوته لاړې، نو دببري موربیا په ژړاپیل وکړ. ځانته یې ښیرې کولې:

ـ زمالاسونه دې مات شي ، ببری مې پر تنکي مخ څومره سخت سخت وواهه.ببری خوګرم نه و، څه یې کړي وای ؟ له ډیره خپګانه یې ډوډی هم نه وه خوړلې .

پاڼه له جونګړې نه راووته مورته یې غږکړ:

ـ موري ببری خوپه کنډ وهم واوښت ، په دې مازدیګربه چیرته ځي ؟ هله لورې ! راویې ګرځوه، کلی خوډیرلرې دی ماخوستن به هم ونه رسیږي ، خرابې لارې دي.

پاڼه دهوسې غوندی په یوه ترپ کنډوته ورسیده. ببري مړه مړه ګامونه اخیستل. لکه چې کلي ته یې دتګ زړه نه کیده .پاڼه یې چې ولیده ، بیایې ګامونه یوڅه ګړندي کړل . پاڼه ورپسې ورسیده، په غیږ کې یې ونیو، ښکل یې کړ، اوښکې یې ورپاکې کړې.

ـ پرې مې ږده، زه نه ځمه ،زه مورته نه ورځمه، دومره یې ووهلمه ،ماڅه کړي وای ؟

بیایې ستونی راډک شواو خبره نیمګړې ځنې پاتې شوه، پاڼې بیاښکل کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ راځه مورمې درپسې ژاړي هغه ستا په وهلو ډېره پښېمانه ده. زه مې مور درپسې راولېږلم. راځه چې ورشو ، هغه په تا پسې ځورېږي ، چې ډېره وځورېږي تا هم ښه لېدلې ده ، چې پېريان پرې راځي . چې چېرته وغورځېده که سرې مات شه او که لاس يې مات شه. ببري سلګۍ وهلې:

ـ نه ، نه زه نه ورځمه ، خدای دې يې په پېريانو مړه کړي ، زه نه ورځمه ، زه کلي ته ځمه.

پاڼې په ژړه غوني غږورته وويل :

ـ کلي ته چاته ځې ؟ په کلي کې مور څوک لرو ؟ د کلي نه خودا يو کال کېږي چې خلک غرونو ته راغلي دي ، په کلي خوجازونه بمونه وروي ، تا به هم راته شهيد کړي.

ببري ځان کشولو ، چې د پاڼې له لاسونو نه ځان خلاص کړي ؛ خو پاڼې لکه تېخوری ماشوم په غېږ کې راواخېست . ببري لتې غورځولې او د خور پر مخ يې نوکارې لګولې .

ـ پرې مې ږده زه نه ورځم ، زه نه ورځم .

**** **** ****

په غوجل کې ژېړ خوسی پروت و ، د خپل زوی غوندې يې زړه پرې وسو . د ببرې مورنن ډېره سخته خواشينې وه. خپلې غريبۍ او بې کسۍ تيروختونه ورياد کړل . هغه د ببري پلار ته ډېره ګرانه وه ، هغه وخت يې په يادشو چې د ببري له زېږيدو سره سم د غنمو لوونه ګډ شول . د ببري له پلار سره به يې لوونه کول .

له څوورځو ،لو نه وروسته ناروغه شوه او په سينه کې يې شيدې هم وچې شوې. ماشوم به يې په کوڅو کې ګرځاوه ، کله به يوې ښځې يو غړپ تې ورکړ او کله بلې ښځې. ماشوم به تږوله شپه له لوږې نه په ژړا تيره کړه .

د ببري پلار د بوسو او غنمو په پيسو غواوا خېسته. غوا تکه زېړه وه. ببری يې د غوا په شيدو رالوی کړ. زېړی تږولو ته ګرانه وه. زېړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره اصیله وه، چې پاڼې هم لوشلی شوه . زیړی په ببري ډیره ګرانه وه. خود به ورته ګرانه وه، ببری دزیړی په شیدورالوی شوی و. کله کله خوبه یې دزیړی تی په خوله کې ونیواود خوسي غوندې به یې رودلو. ببري له زیړی سره خاصه مینه لرله ، له سهارنه تر مازدیګره به یې پرپو لوڅروله. له زیړی سره دټولومینه ورځ په روځ زیاتیده.

هغه ورځ چې دببري دپلار مړی یې په وینوکې خیشت پیشت له سنګره راوړی و، ببري زیړی څرځای ته بیولې وه . دببري مور هغه ورځ ډیره سخته راغورځیدلې وه، له تندي نه یې وینې بهیدې ، دکلي ښځوویل چې پیریان یې دي.

کله چې ببري زیړی له څرځای نه راوسته ، دپلار دمړي په لیدویې کړیکې کړې، زیړی هم لکه بنیادم غمجنه په ځای ودریده. داټولې صحنې دببري دمورپه ذهن کې راګرځیدې، نژدې وه ، چې بیا پیریان پرې راشي . دببري کټ ته ورغله ، ببری یې پرتندي ښکل کړ، کلیمې یې وویلې :

ــ خدایه باقي خیر کړې.

**** **** ****

نورې ورځې به چې لمردجګ غره پر څوکه سررانښکاره کړ، نومورېه یې په ببري غږ وکړ:

ــ هله ببریه زویه پاڅه صدقه دې شم ، لمر راختلی دی، بیا به زیړی ځنګل ته دڅرولوله پاره بیایې .

نن دلمرسترګه په شنه آسمان کې څونیزې جګه ولاړه وه، ببری په کټ کې اوږد غزیدلی و ،اوپه درانه خوب ویده و. هغه په شپه کې څووارد راویښ شوی و، ټوله شپه یې په اندیښنو تیرد کړې وه . ویروونکي خوبونه یې لیدل. خوب یې لیده ، چې یو برګ پرانګ ورپسې ځغلي ،ببری منډې نه شي وهلی ، خوچې کله پرانګ ورته رانژدې شواودببري

مرۍته یې منګولې ور وغزولې ، په دې وخت کې ببرۍ له ډېره هیبته راویښ شو ، په کټ کې کښیناست شونډو یې پتري نیولې وو ، په کوچنۍ څېره یې پریشاني خوره وه. دنورو ورځو غوندې یې دغړکۍ دشاربلو اوازپه غوږنه شو. له حسرت نه په ډکو سترګو یې خپلې مورته وکتل ، موریې دچرګۍ پرغاړه خپه اودلګیره ناسته وه. بیا یې سترګې دمستوپه کټوه ولګیدې. دکټوې پر سر برغولی نه و. کټوه وچه ککړه وه ، پر مورګویې مچان ګرځیدل او په ګیډه کې یې کنډو کې کنډوکې مستې نه بربښیدې. تېرې شوې ورځې وریادې شوې. هرسهار به چې له خوبه پاڅیده ،موربه یې دمستو په کټوه کې سوکړک ورته میده کړی و ، او ببرې به په خوند خوند خوړو؛ خو نن دمستو کټوه تشه وه. ببرې دمستو له کټوې ، لاسترګې نه وې اړولې ، چې په غوجل کې دژیړخوسې دردناکې او غمجنې رمبارې پورته شوې. ژیړخوسی په موږې پورې کلک تړل شوی و ، پورته پورته یې ټوپونه وهل. په سترګوکې یې انتظارڅپې وهلې ، موریې غوښته دزیړۍ غواله شیدونه ډک تیونه یې غوښتل . ببرۍ وبوږنیدو ، سترګې یې له اوښکو نه ډکې شوې ،برګ پرانګ یې په خیال کې ورغی. هغه پرانګ چې په خوب کې یې لیدلی و. هغه پرانګ چې ددوی خوشحالۍ یې داړلې وې.

۱۳۷۰-۲-۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشـــه ځـــولـــی

نن دخوست په عسکري قشلوکې دسره بیرغ یوه ریتاړه هم نه وه پاتې. دسرو بیرغونو پرځای شنې سپینې او برګې جنډی رپیدې. عسکرولاسونه دتسلیمی په نوم جګ نیولي وو. دمجاهدینوپه سترګوکې دفتحې نخښې بریښیدې او په ډیرویاړدشوبلوپر سرونو ولاړوو.

نن دخوست واړه او زاړه خوشحاله وو. دتوریالي له کوچنی څیرې نه عجیبه خوشحالي وریده. چې چیرته به یې خپل همزولي ولیدل نوله لرې نه به یې چیغې کړې:

ـ ښه شوچې خوست آزادشو ،څومره خوند یې وکړ . اوس به دهیڅ شي قحطي هم نه وي . اوړه به هم ښه پریمانه وي، مالګه به ارزانه شي. ګوړه چای او خواړه به هم ارزان شي .

اوس به په اوړوکې دمالګې پرځای دبانجانوتروې اوبه نه ګډوو. دمالګې من به ددووزروافغانیوپرځای په دوه درې سوه افغانی وي،اوس به دغرونو څخه دڅیرې لرګي راځي او دخوست میوه داري ونې به روغې پاتې شي. دنښتروغوټې به هم نه سوځوو. هو رښتیااوس به د مجاهد ینو

توغوندي هم نه راځي او موږ به نه پرې وژني.

داخبرې د توریالي سبق ګرځیدلی و. هر چا ته به یې په خنداخندا او په مینه مینه کولې. په منډه منډه کورته لاړچې خپله مور، پلار او خویندې دخوست له آزادۍ نه خبر کړي. په هغوی هم زیری وکړي. د آزادۍ زیری، دقحطۍ دله منځه تلوزیری، د توغوندیونه دخلاصون زیری اودهرشي دارزانۍ زیری. دکور دروازې ته نژدې شو. له توریالي سره د آزادۍ دزیري تلوسه وه. ناڅاپه یې دمیګ جازونوبوږنوونکی غږ واورید. دبمونو غرمباشوه، دخوست په عسکري قشلوکې دسکډ توغندي لکه توردیوان ولګیدل. دسکډیو توغندی ددوی په کورولګیده، دکورڅیره په یوه لویه کنده بدله شوه.

*** *** ***

دمجاهدینود توغندي آوازپه هواکې خپورشو. دتوغندي د لګیدوسره سم درب شو چې توریالی له کټه راولویده، خویندویې په کړس کړس ورپورې وخندل:

ـ څنګه توریالیه زموږپه ناروخونه پاڅیدې دتوغندي له ډاره له کټه هم راولویدې.

مورخپلې لونې ملامتې کړې:

ـ مه ورپورې خاندئ په توغندیو کې خوڅه توکې نه شته.

پلارې هم راببرشو:

ـ هغه پرونی پیښه موهیره شوه، خدای موځوانیمرګې کړه.

توریالی په اندیښنوکې داسې ډوب و، چې دخویندواو مور اوپلارپه خبرویې ځان هم ونه پوهاوه. دنغري پر سرتورچای جوش ایښی و. په نغري کې دنښتروغوټې بلیدې، غوټې په وینوسرې وې. په وینوسروغوټو سرې لمبې کولې. دنغري په څنګ کې یوه ځولۍ په وینوسرې غوټې پرتې وې. دتوریالي مورچای او ډوډۍ تیارکړل. کله

چې توریالي د تودې ډوډۍ ګوله خولې ته کړه او دچای یوغوړپ یې وکړ، سترګې یې دنغري په څنګ کې یوې ځولۍ په وینوسروغوټوته واوښتې. ځمکه ورباندې وچورلیده. زړه یې راډک شو. توریالي ته خپل ځان سړي خوړوبریښیده. داسې لکه چې دبختورله غوښواووینویې خوله ډکه کړې وي. ژرې له خولې نه ددوډۍ ګوله اودچای غوړپ توی کړل. په مخ یې غبرګې غبرګې اوښکې راغلې. اوښکې یې پټې پاکې کړې چې دمواوپلاریې ور پام نه شي.

توریالی بیګانې خوب اوپرونۍ غمجنې پیښې سخت ځوراوه. دتوریالې ښایستوکې فکرونه او خیالونه غمونو ګډوډ کړي وو، داسې لکه چې بمونه اوتوغندې کلې اوکورونه سره ګډوډ کړي. دکوچنیتوب رنګینه دنیاګۍ یې غمجنو پیښولوټلې وه. دشونډوله تنکیوغوټیونه یې خنداشوکیدلې وه. دکوچنیتوب شوخې ځینې هیره شوې وه او دوخت دغمیزو په باب یې دلویانو غوندې فکرکاوه. خود هغه فکرپه دومره پیچلواو غمجنو پیښو کې کله رسیده. د توریالي په کرووروکې دپام وربدلون راغلی و. په څیره کې یې له ورایه دغم نخښې معلومیدې. دشپوورځوله تیریدو سره دتوریالې کنجکاوۍ او اندیښنې زیاتیدې.

دخوست دښارپر عسکري ځایونو دمجاهیدینو توغندي همداسې وریدل. کله کله خوبه داتو غندي دبازارپه منځ او عسکري ځایونو ته نژدې کورونو کې هم ولګیدل. دحکومت الوتکو، شوبلو دمجاهدینوپر مرکزونو او دمرکزونو سره پر نژدې کلیوبمونه غورځول. دلته او هلته دجنازوخبرې وې اودویرونو ساندې.

دتوریالي له څیرې نه خوشحالې تښتیدلې ود. پخوابه یې په کورکې ډیرې خبرې کولې خواوس یې له خولې نه سپن هم نه خاته. داڅوورځې د نښترودغوټو په ټولولوپسې هم نه و،وتلی. دنغري په څنګ کې دغوټوځولۍ تشیدوته نژدې ود، ایله یو څوپه وینو سرې

غـوتې پکې پاتې وې. هرې غـوتې دخـپل خـواره ملگري « بخـتـور » دخاطرا توغوتې ، ورتـه سپرلې. موراوپلاريې د توريالي په غـمجن حالت ډيرځوريدل. موربه يې ويل:

ـ هسې نه چې په بختورپسې يې زړه وچوي بختورخوتوريالي ته له وروروره هم خوږو ، سودايي شوی دی ، چې ليـونی نه شي خدايه ژربه يې سپيلني ورته لوگی کړل . د توريالي په غاړه يې د تاويزونو اميل جوړ کړ ، خود توريالي پريشانی ته يې هيڅ گټه ونه رسوله.

توريالي ته غـمجنوپيښوله ژوندنه يوه سخته کشاله جوړه کړې وه .داسې کړکيچنه کشاله چې دحل په لاره چاره يې نه پوهيده.

ـ خدايه مورمې هره ورځ د تيروشوو اخترونو کيسې راته کوي ، خو زه چې له موره پيدايم يومې هم دخوشحالی اخترونه ليد. اوس ولې اخترونه نه شته داغلې ولې گرانې دي ، دادچای گوړې اومالگې ولې قحطي ده او داجازونه ،شوبلې څومره ډيردي توغوندي څومره ډيردي اوداوينې... .

زړه به يې وبوږنيده اود بختوروينې به يې په خيال کې ورغلې . دنغري په څنگ کې دغوتو ځولی تشه وه. دبختورپه وينو سرو غوتو د توريالي نغری څوورځې تود ساتلی و. توريالی بيادغوتود ټولولوپه نيت له کوره راووت، دنښتـرو هغه ځنگل ته چې دښارلمنه يې ښکلې کړې وه راغی. ددې ځنگل غوټوبه به تل د توريالي او بختورساړه نغري تاوده ساتل .

دنښتروزلفې د توغنديو او سپنيزو پنجوشوکولې وې . دنښتروله غوټو ډکې تنکی څانگې لرې لرې پرتې وې . توريالي له ماتو تنکيو څانگونه غوټې شوکولې . ناڅاپه توغوندي راغلل. دنښتروله ځنگل نه يو څه لرې ولگيدل. توريالی په بيړه دغوټوډکې تنکی څانگې ته ورغی ،داسې لکه چې دبختورغيږوي اوغوټې يې دبختوردزړه په وينوسرې وې . توريالي دماتې څانگې غوټې ژرژروشوکولې، خپلې ځولی ته يې واچولې، منډه يې کړه او ژوبله څانگه يې تشه پرښوده ،داسې لکه دبختورتشه ځولی اوټوک ټوک بدن يې د توغنديوداورلاندې پريښی و.

۱۳۶۹/۱۰/۱۳

دتنيوغرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنځیرونه

دپخواني عادت په څیریې بیاهم دریمې کوټې ته سترګې ورواړولې. دکوټې دروازه په تورزنځیرتړل شوې وه . تور زنځیر د ګل اندامې زړه ته لکه تور مارتیک ورکړاودبندې کوټې خیالي تصویر یې دهغې په مغزوکې ړنګ کړ. په شونډو کې یې څه وویل ، خواښې یې بیاورنارې کړې:

ـ ګل اندامې !وه ګل اندامې ! وه خدایه کنه هم شوه .

دریم ځل یې په زوره ورغږ کړ:

ـ وه ګل اندامې !

ګل اندمې ټکان وخوړ:

ـ درغلم ادې انګړمې جاروکاوه .

ـ ګل اندامې لورې ! په دې بخاری پسې اورواچوه دباتورد پلار ډیره یخني کیږي ، نن سباډیرکمزوری شوی دی . بیګاه شپه یې ټوله وینبه تیره کړه . نهٔ پوهیږم چې یخني یې کیږي که له اندیښنونه خوب نه ورځي.

د دروازې غرب شو. توتي کوټې ته راننووت ،دسبو ټوکرۍ یې ګل

اندامې ته ورکړه:

ـ ښکلې کاکۍ داواخله پاخه یې کړه، بابامې ویل چې ښه خوا ږه دې یې پاخه کړي میلمانه ورسره راځي.

ـ ښه ورورکه! ښه خوا ږه به یې پاخه کړم. اول به دمیلمنو کوټه جاروکړم بیابه سابه هم پاخه کړم.

گل اندامه دمیلمنو کوټې ته لاړه. دتوتي مورتوتې ته په قهرشوه:

ـ څووارهٔ مې درته ویلي دي چې ښکلې کاکۍ یې مه بوله اوس خو کوچنی نه یې په نن سباکې به ژنی شې دومره نه پوهیږې؟ گل اندامه هم ځان ناگاره اچوي غټه ښځه ده اوس هم ورورک درته وایي. له نن نه وروسته دې که ښکلې کاکۍ وبلله بیابه ... .

په توتي کې یې سترگې ښخې کړې. په سترگوکې یې دغم او غوسې نښې رابرسیره شوې. یوه شیبه غلې شوه او لنډه لنډه سایې واخیسته، بیایې په قهرجنه لهجه ورته وویل:

ـ نه پوهیږم چې دا ته ولې نه پوهیږې، اوس خو ماشوم نه یې.

توتي چې دمورغمجني اوقهرجنې څیرې ته وکتل حیران شو. د مورپه خبرویې سر نه شو خلاص:

ـ وې خدایه داڅه درباندې وشول لیونۍ کیږې خوبه نه؟ ولې تا نه ووراته ویلي چې ښکلې کاکۍ یې بوله، دلاله ناوې دې ده، ورینداردې ده. اوس ولې راته وایې چې په نامه یې بوله، له تاسره خوجنگ نه کوي څه ... .

مورته یې دتوتي په ساده گۍ قهرورغی او په تونده لهجه یې ورته وویل:

ـ ته نه شرمیږې چې اوس یې هم ښکلې کاکۍ بولې، گل اندامه خواوس ستاپه نوم دده، داخبره دتوتي پر زړه لکه خنجرولگیده. زړه یې راډک شوزړا ورغله په منډه له کوره و، ووت. دهدیرې په قبرونو

ورگډشواو دیو قبرد پاسه پرمخې پریووت.

گل اندامـــې دخـــواښـــې او توتي خـــبـــرې ټکي په ټکي اوریدلې وې. دمیلمنو دکوټې پردیوال دباتور عکس ځړیده . گل اندامې دباتور عکس ته ســتــرگـــې ورواړولې . دباتورله عکس نه غـــمـــجنه موسکاوریده . په سترگویې اوښکې راغلې. نرۍ شونډې یې لکه دگل پاڼې ورپیدې لکه له خپلې خواښې نه چې دباتورعکس ته گیله کوي . دباتورسترگې همغسې موسکۍ وې اوپه ټنده یې گونځې رانه غلې . دمیلمنو له کوټې راووته او ددریمې کوټې سرته وختـه . دمـهـاجـرو کورونه لکه د زنځیر کړۍ سره نښتي وو. دمهاجروهدیره په رنگارنگ جنډو کې پټه وه. دجنډو لاندې قبرونه هم لکه دزنځیر کړۍ سره نښتي وو. په ځینوجنډو کې گلونه او دشهیدانو نومونه په وریښمینو تارونو اوبدل شوي وو. دگل اندامې په بیکرار زړگي عجیبه چل وشو. منگولی یې لپـه کړې هدیرې ته یې وکـتـل . له دریمې کـوټې نه دوهمـې او له دوهمې کوټې نه دمیلمنو دکوټې سرته راغله . ددریمې کوټې دبندې دروازې له زنځـیـرنه یې ستـرگـې بلې خـواتـه واړولې . گل اندامـې ته دجنډو گلونو اود شـهـیـدانو نومـونو عـجـیـبـه سـودا ورواچوله . دسـبـو دپخولو په څنگ کې یې پر سپین ټوکروریښمین تارو نه لکه زنځیرونه وغځول.

گل اندامـې به اوس هر ورځ پر سـپـینوټوکـرانو وریښـمـین گلونه جوړول ، سبرکال په دریمه کوټه کې نه اوده کیده . دریمه کوټه به ټوله شپه په چوپتـیـااو تیاره کې ډوبه وه. سبرکال په ژمي کې دوی ټول په دوهمه کوټه کې اوده کیدل . گل اندامې ته په دوهمه کوټه کې هیڅ خوب نه ورتلو . کله به چې دنیمې شپې باد د دریمې کوټې زنځیرو شرنگاوه د گل اندامې په زړه به د غمونو مارانو خولې ښخې کړې ، لکه چې کټ یې په مارانو اوبدل شوی وي . گل اندامې په تیریو کال کې ایله دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې په دوهمه کوټه کې تیرې کړې وې . هغه یې هم له ډیرې خوشحالۍ نه په ویښه تیرې کړې وې. دناوې توب شپې یې وې ،په دوهمه کوټه کې دوې شپې او دباتورخاطرې یې په ذهن را ووریدې.

پیغلې اوپیغلوټې سندرې وایي دایرې وهي او اتنونه کوي. ځینې پیغلې له گل اندامې نه چا پیره کیناستې .یوې پیغلې دگل اندامې له مخ نه دټکري پیڅکه پورته کړه په خنداکې یې پوښتنه ځینې وکړه:

ــ خورې نوم دې څه دی؟

گل اندامه موسکه شوه او هیڅ یې و نه وې.

یوې وویل:

ــ گل اندامه نومیږي.

یوې بلې داهم پسې زیاته کړه:

ــ گل اندامه نه ،گل اندامه ښا پیرۍ.

ټولوپیغلو په بړک بړک وخندل.

یوې زړې ښځې وویل:

ــ زموږباتور هم بهرام شهزداه دی.

بلې داخبره ورپسې غبرگه کړه:

ــ مبارکه دې شي داخوډیره ښکلې جوړۍ شوه.

یوې پیغلوټې دگل اندامې لونگینو ځونډیوته غلی لاس وروغځاوه غوښتل یې چې ویې شوکوي . گل اندامې یې لاس ټینگ ونیو. پیغلوټې په خنداکې ورته وویل :

ــ وی گل اندامې خورې څومره بخیله یې لکه چې دباتورد کلاشینکوف له پاره ځونډې ساتې .ټولې پیغلې اوپیغلوټې له خندانه شنې شوې.

دوې شپې لکه یوڅوشیبې دسترگو په رپ کې تیرې شوې . په دریمه شپه گل اندامې ته ددریمې کوټې واک ورکړل شو. گل اندامې په

لړزاندو لاسونو د دریمې کوټې زنځیرخلاص کړ. دزنځیر له شرنگ سره دگل اندامې دبنگړو شرنگاگډه شوه او دلونگو له وړموسره دریمې کوټې ته ننوته. ځان ځینې ورک و. زړه یې په ټترکې ټوپونه وهل، دکوټې څراغ یې ولگاوه. پرمخامخ دیوال دباتور عکس راځوړندو. عکس ته یې په مینه وکتل. اننگې یې له شرمه سره شول ژریې د دروازې خواته مخ واړوه چې چا خوبه لیدلې نه وي. دروازه یې بنده کړه. دکوټې په کنج کې دباتورکلاشینکوف راځوړند و. د کلاشینکوف دساده بند په لیدویې په زړه کې وویل:

ـــ دابه په مریو او ځوندیوکې داسې پټوم چې خلک یې ننداره کوي. دریمه شپه هم تیره شوه. ډیرې خوږې شپې یوه په بله پسې تیریدې. کله به چې باتور دجهاد سنگرونو ته تللئ وگل اندامه به په دریمه کوټه کې یوازې پاتې وه. گل اندامې به تر نیمو شپو دباتور کمربند او کلاشینکوف ته ځوندې جوړول او په دې ډول به یې دباتورد بیلتانه شپې لنډولې.

یوه شپه دباتوردوی پر سنگرونو دحکومت له خوا سخته حمله شوې وه. دېمونو او توپونو اوازد مهاجرو کلي ته رارسیده. گل اندامه ترنیمو شپو دکوټې پر سرناسته وه. کله به چې دوطن دغرونو پر سر دېمونو بریښناخوره شوه دگل اندامې له خولې نه به بې اختیاره ووتل:

ـــ خدایه خیر کړې باتورته خیر کړې. پټ به یې په زړه کې ډیرنذرونه ومنل.

دگل اندامې لیونې خیالونه به چې تردې ځایه راورسیدل نوربه هیڅ هم نه ووپاتې اودد ریمې کوټې په څیربه دگل اندامې سپینو مړوندونو ته زنځیرونه اچول شوي وو.

تنې دنریزې کلی

۱۱-۱۲-۱۹۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 5388

دسپین شیطان په غیږ کې

دايې پوخ عادت گرځیدلی و، له هر لمانځه وروسته يې رااخیست ،ښکلولو به يې ، دعاوې يې ورته کولې، ورته ژړل يې:

ــ خدای دې تلې تودې کړه ، خدای دې راوله.

بیايې دزوی په ښکلې عکس کې سترگې گنډلې وې . له سترگونه يې لکه دپسرلي باران مړې مړې اوښکې رابهیدې. غوښتل يې چې څه ووايي خو سلگۍ دهغې خبره غوټه کړه . سپوږمۍ تسله ورکوله:

ــ ادې مه ژاړه خدای مهربان دی گوندې خدای يې راولي .

سپوږمۍ هم د خپل مین عکس ته سترگې ورواړولې .دزلمي په سترگو کې د ځوانۍ غرورځلیده . سپوږمۍ ته تیرد مینې وختونه وریاد شول . پرخپل زړه يې زورراوړچې ونه ژاړې خوله سترگونه يې داوښکوچینه روانه شوه. دزلمي مور په سلگوسلگو کې داخبره وکړه:

ــ پلاريې په زلمي پسې رنځورشو.....په ځنکدن کې يې هم زلمي یادولو..... دزلمي په ارمان لاړ.

گلالۍ په خنداخندا کورته راغله . په ډیرې خوښۍ يې ناري کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ زړې ادې وه زړې ادې تاته وايم داغږولې نه کوې؟ دباغ نه مې منې درته راوړې دي. بادونو راتويې کړې وې.

نیاگلالۍ تینگه په سینه پورې ونیوه پر سترگويې ښکل کړه. ادې دې جارشي په دې وړوکې خولگۍ دزلمي غوندې سترگې دې دي. ته خو زماد زلمي نخښه يې، دعاکوه چې زلمی دادادې خدای راولي، دکوچنيانو دعاخدای قبلوي. که زلمي رانه غلوځمکې او باغونه به تربورانو ته پاتې شي تاسې به هم ورته پاتې شئ. په زوره يې ناري کړې:

ـــ په زلمي پسې مې سترگې وختې خدايه!

گلالۍ مې پنځه کلنه شوه که زلمی ژاړند ژوندی ورک نه وای اوس به خدای ډيرلمسيان راکړی وو. گلالۍ خپلې وړې منگولې لپه کړې اود خدای دربارته يې ونيوې، په وړه خوله يې دعاوکړه:

ـــ خدايه! دادمې ژرراولې زړه ادې مې ورپسې ژاړي. نيااو سپوږمۍ، امين وويل او دوی هم دگلالۍ دعا په خپلو لپوشوو لاسونو بدرگه کړه.

* * *

زلمی خپل موراو پلارډيرپه نازلوی کړی و، دهغه به چې څه زړه غوښتل موراو پلاورته نه، نه وو کړي. دځمکې کاروباريې ټول دپلار پر غاړه و، دلو په وخت کې به يې موراو پلارلوونه کول. زلمي به چې يو څوگيډی وريبلې نولوربه يې لرې وغورځولو، وبه يې خندل:

ـــ ادې زمالاسونه تناکې شول، زه لو نه شم کولی. کراربه پر پوله کيناست. پلاريې هم نه غوښتل چې دزوی تنکي لاسونه دې يې تناکې شي. دتوکې په ډول به يې ورته وويل:

ـــ بچيه! ته کرارراته کښينه زموږ ننداره کوه. موردې چې په څنگ کې راسره وي دټولې دنيالوونه ماته پريږدد. ټولوبه په کړس کړس وخندل. زلمی لادياړلس کلن هلک وچې جيب به يې له پيسونه ډک و.

یوڅوکاله یې مکتب وویلو ، له مکتب نه یې زړه تورشو ، مکتب یې پرښود . دځوانۍ په مستۍ کې ډوب و ،خدای ښکلې ځوانې او فولادي وجودورکړی و. په کلي کې یې دزورمخی نه و ، چاورسره غیږه نه شوه نیولی . دنورو کلوډیرقوي ځوانان یې هم مات کړي وو. دزلمی نوم لکه دنکلونو قهرمان دخلکو په ژبه و. زلمی دکلي ددیروجینکوخوښیده. دزلمي مینه له غیږې نیولوسره وه . هغه به چې کوم قوی ځوان دپهلوانۍ په میدان کې مات کړنو ځان به ورته پاچاښکاریده. نن یې بیاد غیږې نیولو میدان گټلی و ځان ځینې ورک و ، ځمکه او اسمان یې نه لیدل . دکلي په کوڅه کې روان و ، چې منگي پر سر ډله جینکې پر مخ ورغلې ،دجینکو په منځ کې سپوږمۍ هم وه . دکلي بې جوړې ښکلې پیغلې سپوږمۍ چې زلمی ولید نو په څه بانه یې ځان دټولوجینکوشاته کړ. دزلمي هم ورپام شو ، کله چې زلمی او سپوږمۍ په مخه سره ورغلل نو سپوږمۍ خپلې خوږې سترگې په ډیرې عاجزۍ ورواړولی ، لکه سوالگرچې له چانه دخیرات سوال کوي ، سپوږمۍ له زلمی نه غوښتنه لرله . دسپوږمۍ په خوږو سترگوکې عجیبه تاثیروو. دزلمي په وجود زلزله گډه شوه . لکه دغیږې نیولو په میدان کې کوم قوي پهلوان راڅملولی وي . پښې یې په لړزاشوې ،چې څوک به په لاره ورغلل او خبری به یې ورسره وکړې په خبرو کې به یې هم ژبه بنده شوه . زلمي له ځانه سره وویل :

ـــ داسپوږمۍ بیخي لکه جادوگره داسې ده . هغه بله ورځ چې زه پر لاره روان وم دادبام پر سرناسته وه سترگې یې په ماکې گنډلې وې ،لاس یې هم ترزنې لاندې نیولی وچې څه ورورې مړدی ؟!

ورو ،ورو زلمی دغرور له نیلی نه را کوزیده . اوس له چا سره په غیږ نیولو پسې هم ډیر نه گرځیده . اوس یې زړه غوښتل چې همیشه یې سترگې دسپوږمۍ له سترگوسره غیږ ونیسي . ددنیاگۍ کارته یې

گوتې نه وروړې . کوږ خلی یې هم نه سماوه . تر نیمو شپوبه دکلي په دکانو او حجرو کې ورک و . کله کله خوبه یې دچرسوپر چیلم هم شونډې کیښوې . موربه یې ترهغو ویښه ناسته وه چې څوبه زلمی کورته نه و ، ورغلی . چې دڅه شي ښکالو به ورغله په ډیره مینه به یې غږوکړ :

ــ زلمیه زویه! وه زلمیه زویه راغلې!

چې زلمی به غږو نه کړنو موربه یې بیا ویښه کیناسته .

یوه شپه چې خلک په خوږوخوبو ویده وو ، دزلمي موردزلمي په انتظارویښه ناسته وه . دسپوغپاشوه :

ــ « فضل وکړې خدایه ! سپي به زلمی وخوري »

دزلمی مورلا په دې سوچ کې وه چې دټوپک له ډزوسره سم دسپوویشتلې انګولا پورته شوه . دمور په زړه کې یې سوې لیکه تیره شوه .ناري یې وکړې :

ــ زلمیه چاووژلی ؟!

دباندې کوڅې ته راووته . پلاریې هم راویښ شواو په ډیرې وارخطایی کوڅې ته راووت :

ــ څه خبره ده ؟

دزلمي مور په وارخطایی سره ورته وویل :

ــ زلمی نه دی راغلی ،هلته ډزې وشوې هسې نه چې...

دوی لاداخبرې کولې چې زلمی ټوپک په لاس راورسیده . دټوپک له شپیلۍ نه د باروتو سوی بوی ختو. دوی واړه کورته ننوتل . دمورزړه یې اوس هم لکه پاڼه رپیده . پلاریې ورته وویل :

ــ ګوره زلمیه ! اوس خو کوچنی نه یې سم کارو نه کوه . مکتب دی هم پر ښبود ،د ځمکې په کار وبارهم نه پوهیږې ،اخرزده کوه یې، موږخو سپین ږیري یو ،خدای خبر دی نن به یوسبابه نه یو. سبابه داهر څه تاته پاتې وي ، په یوه به هم نه پوهیږې .ټول خلک ستادزوراو ځوانی

صفتونه کوي ، خو مور ستا په ځوانۍ کې هيڅ هم و نه ليدل . خلک خو او لاد د کومک له پاره غواړي . ستا به کله مورته کومک رارسيږي . دشپې وختي کورته راځه ، موردې ټول شپه ويښه وي . ازاربه درته وکړي . که په خوله يې نه درته کوي زړه به يې ازاردرته وکړي . ډير په خپل زورمه غره کيږه . شپوچې خوړلي دې دهغوی پته هم نه ده لګيدلې پلارې لاخبرې نه وې خلاصې کړې چې موريې په کې ورولويده :

ــ دزلمي پلاره ډيره يې مه خپه کوه . زلمی اوس نوی زلمی دی چې واده ورته وکړو ښه به شي .

په دې خبره يې د پلار قهرسوړشوويې خندل :

ــ زه خووايم چې خپله ښځه اواو لادونه به هم و نه ساتي . نه يې تعليم وکړاو نه دځمکې په کاروبار پوهيږي. موريې وويل :

ــ څنګه به ښځه اواو لادوته و نه ساتي چې چيرته قوي ځوان دی دزلمي دزورمخه نه ويني.

پلارې وويل :

ــ ښه دی چې داسې ده بياخوبه ورته دواده غم وکړو .

* * *

نيمه شپه ده زلمی په کټ کې اوږد وغځيده . کټ ورباندی تاويده ، لکه ټال ټالی يې وهلې . داسمان ستورويې سترګې بريښولې ،لکه سترګکونه چې ورته کوي . له يوې سپوږمۍ نه درې څلورسپوږمۍ ورته جوړې شوې .خپله سپوږمۍ هم په خيال کې ورغله .هغه سپوږمۍ چې په ټول کلي کې يې دښکلاجوړه نه وه . له ځانه سره يې وويل :

ــ پلارمې دواده غم راته کوي .

له خندانه شين شو ، ړوند له خدايه څه غواړي دوې سترګې.

* * *

وخت تيريد واو بياهغه ورځ هم راغله چې زلمي په زيارتونو له خدايه

غوښته .
دزلمي موراو پلارعجيبه خوشحاله وو ،داسې خوشحالي هغوی په خپل عمرکې هم نه وه ليدلې . ولې به نه ووخوشحاله . ديوزوی واده يې وو . بياد سپوږمۍ غوندې نږور .د کلي ښځو به دزلمي مورته ويل:
ـ ته هم بختوره يې سپوږمۍ خو چې دچا په کورکې وي دلولوردې يې هم نه وي .
زلمی دسپوږمۍ مينې يوڅه له بې ځايه هوسونو نه وساته . دايوکال خو دسپوږمۍ په مينه او دهغې په خوږو خبرو نه مړيده . موراو پلاريې هم ورته خوشحاله وو ، بياداسې ورځ هم راغله چې دوی ټولو ديوه نوي ميلمه دراتګ لاره څارله . پلاريې ويلي وو :
ـ که خدای لمسی راکړونو دقلبې په غوايي به خيرات کوم . د زلمي مورهم داسې ډيرنذرونه منلي وو ، خو هغه دچاخبرده چې « دزړه چارې په جنت کې وي » دزلمي دزوی پرځای لورپيداشوه. دزلمي موراو پلارهم ډيرناامیده نه و. دزلمي مورته دکلي ښځوويل چې لومړۍ لوربختوره وي ،په دې پسې به خدای ډيرلمسيان در کړي . دزلمي موربه چې خپله لمسۍ په غيږکې واخيسته په خنداو خوشحالۍ به يې ورته وويل :
ـ سترګې دې له زلمي نه پټې کړې دي.
له يوکال نه هم ډيره موده کيده چې زلمي دشپې له خوادنشه يانو په محفلونو کې برخه نه وه اخيستې . کله کله به يې چيرته پټ يو نيم دچرسو سګريټې وڅښلو. دورځې به چې چرسيانو وليدو نو ټوکې به يې ورپورې کولې او ورته ويل به يې :
ـ زلميه ! اوس خو دشپې له خوادکانو نو ته هم نه راځې، لکه چې لور ورته زنګوې .
کوم يوه خو به دچرسو سګريټې ورته ونيواو ورته وبه يې ويل :
ـ نورې خبرې پريږده خو يودم ونيسه ، فقيربوټی دی بنده بيړۍ به

دې خداې چالان کړي .

زلمي به هم په ډيره مينه له سگريټې نه شنه لوگي پورته کړل.

دچرسولوگي دزلمي زړه ورو ورو دسپوږمۍ له سترگونه خلاصاوه او په خپله غيږکې يې نيوه . زلمي بياد شپو له خوا دکانو نو او دنشه يانو محفلونو ته راشه درشه پيل کړه . عجيبه چيلم کښ و ، په يوه ساه به يې دچيلم له سرخانې نه لمبې جگې کړی . زلمی اوس دپاخه پهلوان پرځای په پاخه چرسي مشهورشو. د چرسو په جوړولواو پخولوکې يې خاص لاس درلود . چې کله به يې دچيلم سرخانې ته تيلی ولگاوه نو له شوقه به يې ناري ورسره پورته کړې:

ـ چې بنگ يې نه وې ننگ يې نه وي .چې چرس يې نه وي ترس يې نه وي .بري جارشم له فقيربوتې پاچايې کړم .ملک چې مړشي لکه له ديوال نه چې څپياکه راپريوزي او چرسي چې مړشي لکه لوی غرچې ړنگ شي .

بيايې دچيلم له سره لمبې پورته کړې ،دوامدار توخي يې وکړل ، له سترگونه يې اوښکې روانې شوې او تتريې له خراشکونه نه تشيده. چې کله به يې ښه ډيرخراشکې واچول نو په نيولې ساه به يې وويل :

ـ تتر صفا کوي تتر ، فقير بوتې دی فقير....

دزلمي سوراوسپين رنگ توراوښتی و ، لکه دچرسولوگی ، سترگې يې تکې سرې وې لکه له وينو نه چې ډکې وي . چې چابه وليد نو وبه يې ويل :

ـ دامست ومست ، خپله هستي يې و نه زغمله او پر خپله ځوانۍ مغرورو.

زلمی چرسو بيخي بدل کړی و. په رنگ ، کړو ،وړو ، خبروهر څه کې يې فر ق راغلی و. چې په کومه خبره به دې اخته کړنو ښه په زوراو زبربه يې درته کوله . له سپوږمۍ سره دخپلې ميني کيسې او نورې ډيرې پټې

بربندې کیسې ، په یوه به یې هم پرده نه اچوله .
یوه ورځ دخپل چیلم له ملګري سره له خپل کلي نه لرې ښارته لاړ .
زلمي ورته وویل :
ـ هلکه راځه چې چرس خانې ته لاړشو ډیرسخت خماریم او چرس هم دغوایي دژبې په اندازه چې نه وي په لږومې ګوزاره نه شي .
ملګري یې په خنداخنداورته وویل :
ـ هلکه نه دې ده خوښه چې نن دتورو پرځای سپین ووهو .
زلمي ورته وویل :
ـ هلکه په سپینودې نه پوهیږم خبرې دتورو لونګینو چرسو کوه فقیربوتې دی فقیر .
ـ یاره که سپین دې ووهل نو مارغه به درنه جوړکړي او اووم اسمان ته به دې وخیژوي . اخردواړه زنګیدلي زنګیدلي پوډرخانې ته ننوتل . تک سپین پوډریې دژیړطلایي کاغذ پر سرواچول . له نو ټونو نه یې نري نري نلکي جوړکړل او په خولو کې یې ونیول . دژیړطلایي کاغذلاندې یې بل تیلي ونیول . تک سپین پوډردتیلي له تاوه ویلي شول . دژیړطلایي کاغذپرمخ داسې وبهیدل لکه دپوډري پر تک ژیړمخ چې اوښکې روانې شي . دویلي شوو پوډرونري لوګي یې په نریونلکیوکې زړونو ته تیرکړل . له دوی نه ډیرکمزوري او تش جیبی پوډریان چاپیره کښیناستل . هر یوه به زاری ورته کولې :
ـ ځوانه یو کش به زه هم وکړم .
له زلمي نه سپینو پوډرومارغه جوړکړی و . په هواکې ګرځیده .سپینوپوډروداسې په غیږکې نیولی و ، چې نوریې هرڅه ځینې هیرکړي وو . اوس به هر وخت پوډرو له زلمي نه مارغه جوړولواو په هوابه یې ګرځولو . ورو ،ورویې کور ، موراو پلارهیریدل . کوچنی ګلالی هم نه وریادیده . اوس کلي ته نه شو تلای هغه اوس سپوږمی ته هم سترګې نه

شوی نیوای . دزلمي جیب تش شو. زړه یې هم تش شو، دژوند له مینې نه . دسپوږمۍ له مینې نه او..... پوډر دهغه دوجود یوه برخه وګرځیدل. هغه ته به چې پوډرونه رسیدل نو وجود به یې ړنګ و. د پوستکي لاندی به یې میږي ګرځیدل . پر خپلو تیرونو کانو به یې دومره ځان وګرولو چې له پوستکي به یې وینې وبهیدې .دهغه وینې هم زیږبخونې وې ، لکه دد ه رنګ ، لکه د پوډرود کشولو ژیړه پاڼه .

* * *

خپل خپلوان په زلمي پسې ډیرو ګرځیدل .خوزلمی یې پیدا نه کړ. څنګه یې پیداکړی وای ؟! ښارونه له پوډریانو نه ډک وو. ټول زیږزبیښلی لکه ټول د یوې رنځورې مورزامن . زلمی به ډیرو خپلوانو دوستانو لیدلای وې خود پهلوان زلمي او پوډري زلمی ترمنځ دځمکې او آسمان غوندې فرق و.زلمي به ډیرو خلکوته دسوال لاس نیوه . چابه چې دزلمي تک ژیږزبیښلی مخ او نتلی سپینې سترګې ولیدې نو ځواب به یې داو :

ــ ځه ورک شې پوډري .

کله کله به دجومات په دروازه کې دلمونځ کوونکوڅپلیوته غلی و. چې خلک به په لمونځونوودریدل نو غوټه به یې پرې وکړه . یوه پوړی پوډر به یې پرې واخیستل . دهلکانو له ډاره به دښار په څنګ کې کومې کندې ته ورته لاړشو او دکندې له غیږې نه به یې دسپینوپوډروپه غیږکې ځان هواته وخیژاوه . یوه ورځ دبازار په منځ کې یوه دکاندار ناڅاپه چیغې کړې :

ــ داپوډري رانیسئ غلایې وکړه .

پوډري وړو وړو هلکانو راونیواو سخت سخت یې وواهه . هغه به ایله خپل مخ ته دواړه لاسونه ونیول . ژړل یې له مخ نه یې ژیږبخونه وینه بهیده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

داڅوورځې هغه نه په ښارکې معلومیده او نه دجومات د څپلیو ترڅنګ . دښارد څنګ په یوه لویه کنده کې یوسپی غلی غلی ګرځیده او شاوخواته یې مخ اړولو . دکندې په غیږ کې یو څوک پروت و. څنګ ته یې دپوډرود کشولوژیړ کاغذاو داورلګیت ښه ډیرسوي تیلي پراته وو. سپی پراته سړي ته ورو ورو ورنژدې شو . سپی هم ډاریده هسې نه چې پسې راویښ شي . سپي خپله توده ژبه دهغه پر ژیړ ،وچ او یخ مخ ورو ورو را تیره کړه ، هغه نه راو یښیده لکه چې ښه اوږده خوب وړی و .

۱۳۷۰ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنکی ځانګه

ښاپیرۍ شیبه په شیبه د ګل پوښتنې ته راتله . له ډیرې اوږدې مینې وروسته د دوی دواړو کوژدن شوې وه. ښاپیرۍ اوس هم د ګل پوښتنې ته راغلې وه او د ګلدان په خواکې ولاړه وه. هغې به هر وخت اول د ګلدان زیارت کاوه . په ژوروسوچونو کې ډوبه وه . په ګلدان کې مرغیجنو ګلونو دیوه ښه پاسته باران انتظار کاوه. ښاپیرۍ داځوورځې مخکې د ګل تنکۍ ځانګه په ګلدان کې دراشنه کیدوله پاره ښخه کړې وه .هغې په آسمان کې خورې ورې وریځې ولیدې پر څیره یې له امیده ډکه موسکا وغزیده ، او له ځان سره یې وویل :

ـ ګوندې زما ځانګه هم راشنه شي او غیږیې له ګلونو ډکه شي .

ښاپیرۍ په ډیرفاتحانه انداز څنې څنډ وهلې اوله وریځو ډک آسمان ته یې سترګې پورته کړې . یوڅو پاسته پاسته څاڅکي یې پر اننګورا ووریدل .اننګې یې لکه د ګلاب غوټۍ تک سره واووښتل . غوښتل یې چې له ډیرې خوښۍ نه ناري وکړي ، او پر ګل هم زیری وکړي چې ... خوناڅاپه یوه توندې سیلۍ راوالوته د باران تنکي تنکي څاڅکي یې لکه د بلبلانو

ستـرگـې آسـمـان ته پورته کړل . ناترسـه تندورنود باران ستـرگی په مـتروکـوووهلې . دباران سـتـرگـې وپرسـيـدې ، اوشـيـبـه وروسـتـه درندوستـرگوپه ځـيـرولی راو ،وريده . دولی يوځـوغـتې دانې په گلدان ولگيـدې او گلدان مـات شو . ښـاپيـری چيـغـې وکړې ،مـات گلدان يې لکه خپل مات زړه په غيږکې راواخيست . ولی ښاپيری ته په قهرشوه او پر تنکيولاسونويې وويشته . ولی غوښتل چې مات گلدان دښاپيری له تنکيـولاسونو وغـورځـوي . له لاسونونه يې تکې سرې وينې وبهيـدې خوبيايې هم مـات گلدان له لاسونوونه غورځيده . په وينوسورگلدان يې په خپلو زخمې لاسونو کې کوټې ته راوړ . گل په کټ کې پروت و . نری نری زگـيـروی يې کـاوه . نـاڅـاپه ،په کټ کې په لټ راواوښت او سوې کړيکه يې وکړه :

ــ له تـانه يې هم دسروگوته ... دگل ژبه دسرود گوتې په ټکي وچه ودريده . ښاپيری په منډه ورغله :

ــ نه ..... نه گله...داده ... دسروگوته ...دسروگوته مي په گوته کې ده ته وگوره ... لاس مې وگوره ... ټولې گوتې ... ټولې گوتې مې هم جوړې دي . گل يې ښکل کړ اودسروگوته يې دگل سترگوته ونيوه . گل بې سـده شـو . دښـاپـيـری زړه پښـوته ولويده . دگل لـه کـوره راووته . دښاپيريانو په ښارکې هرې خواته دغشوشغاخوره وه . ښاپيری بيخي ، لکه کنيه داسې وه . هغې دغشوآوازونه ،نه اوريدل . په غوږونو کې يې دگل نريونريوزگيـرويو ځاله جوړه کړې وه .د گل پر هغه ځانگه يې زړه سوځيده چې تازه يې په گلدان کې دراشنه کيدوپه خاطرښخه کړې وه . ډيرو او ښکو يې په سترگو مهرونه لگولې وو .ښاپيری ليوني ليوني گامونه اخيستل ، نـاڅاپه يې پښه لـه کوم شي سره ولگيده ډيره سختـه راوغـورځـيـده . لـه سـتـرگـونـه يې داوښکو غټ غټ څـاڅکي لرې وغورځيدل . نـاڅاپه يې سترگې خلاصې شوې .

دښارپه څلورلاري کې همغه سپاره ولاړوو. دټولو آسونه داسې تک سره وو، لکه په وينو کې چې لمبيدلي وي. ښاپيرۍ ته ټول سپاره دنکلونو ددیوانو غوندې وبريښيدل. په خپله هم، لکه دنکلونو ښاپيرۍ ويرې واخيسته. لاره يې بدله کړه، گام پر گام يې شاته کتل چې دسپروورپام نه شي. دسپرومشرد ټولوپه سرکې ولاړو. په گوته کې يې دسروگوته ځليده. تورې يې لکه د دوزخ داورلمبه پړک واهه. دده او دده د آس په سترگو کې يو عجيبه فاتحانه غرورگډيده. د سپرومشرد مخامخ غره په هغه لوړه څوکه کې سترگې گنډلې وې او له ځان نه ډيرراضي معلوميده. ځان ورته دنکلونو له ديونه هم زړوروبريښيده. دی داڅوکاله دنوموړي غره هرې څوکې ته څوڅوځله ورختلی و. ده به په دې غره کې دښاپيريانو ښکارکاوه. دی به چې دې غره ته د ښاپيريانو په ښکارپسې تلونو په هر گام به يوه لپه طلاورکول کيدې.

دسپرومشردغره له لوړې څوکې نه سترگې راکوزې کړې. له خپل بيدار، بخت نه ډيرخوشحاله بريښيده. له خندانه شين شو. ټولو سپرو وخندل او بياټول آسونه له مستۍ نه وششنيدل. دسپرو مشردخندا په څپو کې وويل:

ـــ هم موښکارکړل او هم راته رام دي، دې ته وايي بخت.

دسپرو مشر سپروته مخ ورواړاوه:

ـــ تاسې پوهيږئ چې څوک يادوم؟

سپاره له خنداشنه شول:

ـــ نورنو څوک يادوې خوهمدا ښاپيريان يادوې.

ددوی خندادښاپيريانو دښارگوټ گوټ ته ورورسيده.

دسپرومشرله ډيرې خوښۍ نه نارې وکړې:

ـــ تاسې وگورئ هغه نه ده؟

ټولو سپروپه يوه آواز وويل:

ـ همغه ده .

دسپرومشردمارش غږوکړ. ټول سپاره دسترگوپه رپ کې ورورسیدل . ښاپیرۍ، لکه بازوهلې مرغۍ له سرنه ترپښوپورې لړزیده . لړزیدلي گامونه یې یوڅه گړندي کړل . سپین ټکری یې له سره وښوییده ، مرهم اوپټې یې له لاسونو وغورځیدل . ښاپیرۍ یوناڅاپه ،په ځمکه پورې میخ شوه . مرهم اوپټې دسپرو دمشرد آس ترپولادي نالونو لاندې شول . دښاپیرۍ په زړه کې دیوه سخت دردڅریکه خوره شوه ، لکه چې زړه یې دآس ترنالونو لاندې شـــوی وي ، لکه مـــات گلدان چې دآس ترپښـــولاندې ذرې ذرې شـــوی وي ، لکه دگل پرې شـــوې گـــوته داس ترپولادي نالونو لاندې شوې وي ،له ښاپیرۍنه چاپیره سپاره راتاوشول ، لکه غرڅنۍ چې د پرانگانو په منځ کې راایساره شي . دسپرو مشرله خندانه شین شو. خندایې دښاپیریانو ښار ولړزاوه . ښاپیرۍ ته یې وویل:

ـ ته خبره نه یې چې دهوا مرغۍ هم له مانه ،نه شي خلاصیدای . دښاپیرۍ په مرۍ کې لاړې وچې وې . خوله یې خبروته نه جوړیده . دسپرومشرله آس نه راکوزشو. ښاپیرۍ د خپل کینې لاس په غچې گوته کې دسروگوته دښي لاس په ورغوي پټه کړه . دسپرودمشرورپام شو.له خندانه شین شو:

ـ ښاپیرۍ جانې ته مه ویریږه له تانه دسرو گوته نه اخلم . گوته دې هم نه غوڅوم. رښتیاگل څنگه دی ؟ پرې شوې گوته یې څنگه ده ؟ باوروکـــړه ســـتاپه خـــاطر مـــې پریښـــود کنه ؟...

دسپرومشریوه اوږده خنداوکړه . ښاپیرۍ، لکه پاڼه رپیده سپین یې هم له خولې نه ،نه خاته دسپرو مشرورنژدې شو:

ـ ولې داسې رپیږې ؟مـــه ویریږه هیڅ هم نه درته وایم . هو ! هو ! داڅنې دې څنگه بربندې دي ؟ دسپرو مشردښاپیرۍ په څنوټکری ورسم

کړ. دسپرودمشرپه گوته کې دسروگوتې پرک وکړ. دښاپیرۍ په سترگوکې ، لکه مات غمي او ښکې وځلیدې. دسپرو مشربیا په خبرو پیل وکړ:

ـــ گوره ښاپیرۍ ! اوس خومې تکرۍ هم ستاپر مخ درسم کړ، ستاپرده مې وکړه اوس خو...

اوس خوته... اوس خوته دگل نه یې ! ته... ته زمایې... زما... پوه شوې؟

دسپرو مشرښاپیرۍ ته خوله ورنژدې کړه. له خولې نه یې دشرابو توند بوی ختو. ښاپیرۍ وبورنیده او ناڅاپه یې پر مخ ورتو کړل.

شیبه وروسته دسپرو مشراو سپاره بیرته راوگرځیدل. دآسونو پښوپر ځمکه سره خاپونه جوړول. په نالونو کې یې تار تار څڼې ښخې وې. دسپرو دمشرتوره په وینو تکه سره وه. لکه ددوزخ داورلمبه پرک یې واهه. په گوته کې یې دوې دسروگوتې ځلیدې. گل نری نری زگیروی کاوه دمات گلدان پر سریې مړې مړې او ښکې راڅڅیدې او دښاپیریانو پر ښارزلۍ وریده.

پیښور ۱۳۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دالماسو غمي

که څوک سوګند وکړي چې زه به له خدای سره خبرې کوم دخدای کتاب دې ولولي سوګند به يې پر ځای شي . ((په دنيا کې هيڅ داسې وچ اولمدد نه شته چې دخدای په کتاب کې يې ذکر نه وي راغلی))دخدای په کتاب کې راغلي دي :

ـ دخدای دلارې شهيدان به له ټولو نه ښکلي جنت ته ځي . په جنت کې يو جنتي په هغو ښلاګانو کې لوبيږي چې په دنيا کې دهغسې ښکلاګانو تصور هم نه شي کيدای.

موږ شاعران هم عجيبه ليونيان يو ، يوه ښکلاله بلې ښکلا سره تشبيه کوو او يا بيخي د يوې داسې ښکلا لپاره چې په شعر کې يې نوم هم نه وي را وړل شوی يوه بله ښکلا دمستعار نوم په توګه راوړو .ماهم ډېر ځله داګناه کړې ده . يو ځل مې په يوه شعر کې دخدای پاک د کتاب لپاره دخدای پاک شونډې دمستعار نوم په توګه راوړې دي . په يوه شعر کې مې ليکلي وو :

ـ « دخدای پرشونډو يز داني موسکا خوره وره شوه »

توبه مې دې وي خدايه ! ګنهګار مې مه کړې ،نعوذبالله زه خو نه

پیامبر یم او نه والي، بس یو شاعر یمه هغه هم یو لیونی شاعر . په هم دې شعر کې مې له خدای پاک نه پوښتنه کړې وه :

ـــ «خدایه ته ووایه اوس چېرته ګرځي ؟ »

دا ډېر اوږد شعر دی او ددې شعر دقهرمانې کیسه به ټکي په ټکي درته وکړم . لومړی داهم واورئ چې ځینې ملایان او ځینې له خبرونه خبرې جوړوونکي خلک پرما ډېر زیات په غوسه وو . دوی هم ملامت نه وو ، ځکه دوی دلیل وړاندې کاوه چې په شعر کې لوی خدای داسې ګڼل شوی چې ګواکې جسم لري . یعنې دخدای دشوندو ذکر په شعر کې راغلی دی . ما له دې تورونو څخه په دې ځان خلاصاوه چې دخدای پاک دمقدس کتاب قران لپاره مې دخدای دشوندو مستعار نوم راوړی دی . . یعنې پرځای استعاره مې راوړې ده چې پر خدای مین خلک وربانديې پوهیږي . ځکه قران دخدای خبرې دي او له خبرو سره ژبه اوشوندې ډېر نژدې نسبت لري . خیر په هر صورت داخبرې خو ورو ،ورو سړې شوې ، که رښتیا درته ووایم زما دشعر هنګامه هم سړه شوه . زه په دې هم ځوریدم چې ددومره لویې او پاکیزه قهرمانې لپاره دویل شوي شعر هنګامه خو باید ابدي وای . ځکه هغه خو دپرښتو کالي په غاړه اسمانو نو ته تللې وه چې هلته یې دسپوږمۍ تکه سپینه چمبه وهله او دخپل ازاد ناویتوب خوږه او لاهوتي سندره یې غږوله . اوس به له تاسو سره سوال پیدا شوی وي چې هغه څنګه له تیاره ښاره آسمان ته لاړه . کیسه داسې ده :

هغه ښار خو تاسې ټول پیژنئ چې دا ډېره موده کیږي هلته رڼا مړه شوې ، ژوند زخمي شوی باروت را ژوندي شوي له مرګ نه ښامار جوړ شوی دی او دښار لمر یې په ستوني کې پټ کړی دی . دشپې دسپوږمۍ او ستوروپه تتو هندارو کې دلمر درڼا مخ نه لیدل کیږي . دښار دګلونو لوګډ دی او دښار ټول دیوالونه زخمي زخمي دي . دښار هره

کوڅه یوه نوې او ژوندی کربلا ترسیموي . له دې نه هم خبر یئ چې په دې تیاره ښار کې دانسان په جامه کې ځینې ابلیسان هم گرځي . دوی په لاسونو کې اور او په سترگو کې داغونه گرځوي . دوی ښکلاگانې سوځوي اوسپینې لمنې تورې او داغمنې کوي . ددې ابلیسانو یوه ډله اور په لاسونو او داغونه په سترگوکې دښار دیوې مانۍ شپږم پوړ ته وختله ، دمانۍ په شپږم پوړ کې دشاعر دیوه ناویل شوي شعر پاکیزه قهرمانه اوسیده چې د پرښتې په څېر پاکه او دیوه ځلانده ستورې غوندې بې داغه وه . قهرمانې لاسونه لپه کړي وو او د لوی خدای نه یې خپل تیاره ښار ته درنا دعا کوله چې ناڅاپه یې ددروازې ډېر سخت غرب واوریده . قهرمانه ولړزیده او په شونډو کې یې درنا دعا نیمگړې پاته شوه . مخامخ یې دابلیسانو ډله ولیدله چې په لاسونو کې یې اورونه او په سترگو کې یې داغونه وو . قهرمانې دسپینې مرغۍ په څېر ځان په پنجره کې ولید . د ابلیسانو پر داغمنو سترگویې لعنت ووایه . دژوند پنجره یې له شپږم پوړنه لاندې را وغورځوله او د پرښتې په څېر آسمان ته لاړه . اوس چې پر کیسه پوی شوئ تاسې به هم وایئ چې دداسې قهرمانې لپاره خو دداسې شعر ویل په کار و ، چې دقهرمانې دروح په څېر ښکلی وای . باور وکړئ چې زه په خپله هم ځوریدم چې یوې ډېرې ستړې قهرمانې ته مې ولې داسې شعر ویلی چې څوک یې نوم هم نه اخلي . په هر صورت کیدای شي ستاسو زړه راباندې سوځیدلی وي داسې هم نه ده . کله چې څه موده وروسته دقهرمانې تیاره ښار ته لاړم نو دقهرمانې هغه گاونډي ته ورغلم چې دتیاره ښار لپاره درنا پر سندرومین دی . دښار خلک دده په باب عجیبې کیسې لري . وایي :

ـ ډېر غریب دی خو مینه یې ډېره غني ده . له ووجود نه ضعیف او عزم یې دغره غوندې کلک دی . دی باید دښارلیونی مین وگڼو . دی دښار په غره کې اوسیږي . دغره ټولې ونې آسمانه ته غځیدلې چې دغره لاسونه بلل کیږي . دا لاسونه په خپلو لپو کې درنا دعاگانې خدای ته

رسوي . پاس له آسمان څخه دغره پرسر او دغره پر لاسونو داور له سیلۍ سره یو ځای دتبرونو باران وریږي دغره ډېر لاسونه دغره په پښو کې غوڅ ، غوڅ پراته دي .دښار دلیوني مین تولې جامې داور سیلۍ وړې او سوځولې دي . دښار لیوني مین ددې لپاره چې تیاره ښار ته یې لږ رڼا ورکړې وي داور او لمبو کالي اغوستي او ځان یې هم له بربنډتوب نه ساتلی دی. په کوم غره کې کې چې دغه لیونی مین او سیږي په دې غرد کې دتکو سپینو او بې داغه الماسو ستره خزانه پرته ده . دښار مین دا خزانه دښار دتولو مینانو او ښکلو لپاره ساتلې چې یوه ورځ به یې په ډالۍ کې ورکوي . په ښارکې دابلیسانو هغو ډلو چې په لاسونو کې یې اورونه او په سترګو کې داغونه لري دمین پر خزانه ډېر ځله یرغلونه وکړل . غر یې زخمي ، زخمي کړ خو دښار مین او دخزانې ساتونکي یو غمی هم ورنه کړ . مین ته هرغمی دایمان په څېر ګران دی . دا بیخې دمعجزې په څېر کله کله پېښیږي چې غر دموم په څېر نرم شي او دښار مین دنور په لاسونو دوه غبرګ غمي را واخلي او دډالۍ په ډول یې چاته ورکړي. دا دښار دخلکو خبرې وې . زه حیران شوم چې دا څنګه ټول خلک په استعارو ، تشبیهاتو او سمبولونو خبرې کوي . دوی لکه چې ټول شاعران شوي دي .

زما په زړه کې دښار دقهرمانې کیسه داسې غوټه شوې وه لکه دښار دلیوني مین په غره کې پټ دالماسو غمي . ما داغوټه په زړه کې نه شوه ساتلای .زه نېغ دښار لیوني مین ته ورغلم . په دې هیله چې دخپل زړه غوټه ورته وسپړم . دقهرمانې سندره مې ورته واوروله . دسندرې له اوریدو سره سم دښار دلیوني مین داوسیدو پر غره یوه ښکلي او غم انګیزه زلزله راغله او ماته یې دنور په غبرګو لاسونو دډبرو سپېڅلو او بې داغه الماسو دوه غبرګ غمي راکړل . په غمیو کې دتیاره او ژوبل ښار ژوندی تصویر پروت و. دا دوه غمي دکابل دیوه شاعر دوې ځلیدونکې اوښکې وې چې د « ناهیدې » دروح په څېر سپېڅلې او بې داغه وې.

پېښور ۱۳۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نرگسه تر نرگسه

.....څه چې زه ليکم دا زما فطری حق دی . ته په دې کې څه مه وايه چې زما په باب ولې ليکنې کوې . پر تا باندې چې کوم شاعرانه کيفيت راځي او يا له يوې شاعرانه پېښې متاثره کيږې او شعر ليکې ايا چاته حق ورکوې چې تا ته ووايي :

ـ داشاعرانه کيفيت پر تا ولې راغی ؟ ته ولې له يوې پېښې متاثره شوې ؟ له کومې پېښې چې ته متاثره شوې يې او يا همداسې په نا خود اگاه ډول په خپل وجود کې ،په خپل زړه کې ، په خپل روح کې سندريز کيفيت حس کوې ، دزړه په خواکې دې په گوگل کې په عمودي ډول خوږې خوږې څريکې پورته راولاړيږي او ددې ټولو خوشالوونکو او يا غمونکو دردونو په نتيجه کې کوم شعر ليکې ايا چاته حق ورکوې چې تا ته ووايي :

ـ دا ډول کيفيت ولې پر تا راغی ؟

زه خپل ځان ته هم حيران يم چې ستا په تش ليدو او اوريدو پر ما دادومره بدليدونکې زلزله ولې راغله ؟ زه خيال کوم چې لوی خدای زما دزړه ، تخيل .....واک ستا په لاس درکړی دی . ايا دارښتيا ده ؟ ته

خو دې لږ له شپږم حس نه پوښتنه وکړه . زړه مې غواړي دژوند ټولې ښکلاګانې ، غمونه ، دردونه ، بریالیتوبونه او ناکامۍ یو په یو تاته ووایم . دا فطري ده چې هر انسان ،په خاص ډول کنجکاو او هنرمند انسان په خپل زړه کې ډېرې غوټې لري .هر څوک غواړي چې دزړه غوټې یو چاته وسپړي . باور وکړه په خپل ټول عمر کې هر چېرته چې تللی یم خدای ډېر ښکلي دوستان راباندې لورولي دي چې یوه نیمه دزړه غوټه ورته سپړم او دزړه بار سپکوم . خو ستا له لیدو او پېژندو راپه دې خوا مې زړه له داسې ښکلو غوټو ډک شوی دی چې څوک یې په سپړېدو نه پوهیږي . زړه مې دا غوټې دالماسو او مرغلرو په څېر ستا دراز غاړې ته ساتلې دي.

زه پوهېږم څومره چې زه ستا په باب بې کراره یم او څومره چې زه ستا په باب فکر کوم ته کیدای شي زما په باب هغسې بیکراري او هغسې فکر ډېر لږ هم ونه لري . ته داسې مه وایه چې زه ولې تاته مخاطب یم ؟داهغه خبرې دي چې زه یې باید تاته وکړم . داخبرې بایددهوا دمرغانو په څېر آزادې وګرځي . زه پر دې مرغانو داظلم نه کوم چې دوجود په پنجره کې یې بندیوان کړم . زما دخبرو مرغانوته ، ته دیوې ښکلې او سمسورې ونې حیثیت لرې .یوه ونه مرغانوته نه شي ویلی چې تاسې زما پر څانګو مه کښېنئ.

سره له دې چې ته یوه شېبه هم زما درازونو اوریدوته نه یې ناسته خو زه بیا هم تا دخپل ځان لپاره دټولونه ښکلې همرازه ګڼم .ته به پر دې ګډو ودو وخاندې خو زه پر دې ګډو ودو نه شرمیږم او په ډېر صداقت سره دا هر څه درته لیکم .دا هر څه چې زه یې همدا اوس لیکم دا هغه خبرې دي چې همدا اوس زما په روح او زړه کې لکه دشنو اوبو ویالې روانې دي. پر دې خبرو مې نه مخکې فکر کړی او نه مې مخکې تیارې کړې دي .

ته چې ما دخپل ځان په باره کې هر څه ګڼې هغه ستا خوښه ده خو زه روحًا پرتا او ستا په باب دفکر او ریاضت کولو روږدی یم .لکه یو شرابي او یا بل سخت نشه یي چې پر یوه نشه روږدی شي بې له نشې نه کرار نه لري . داداسې عادت نه دی چې پرېښودل یې اسان وي. پردې عادت « تاسره په عالم رویا کې مشغولیدل ،مینه لرل » زما د ، وس خبره نه ده . دا یوه خدایي پېښه بولم چې له دې پېښې خلاصیدل دخدای په لاس کې دي . نه پوهېږم چې خدای به په دې باب نور څه کوي ؟زه پردې مقدسه نشه روږدی شوی یم او دانشه له عبادت نه هم مقدسه بولم . ستا په باب چې وخت په وخت څه کیفیت راباندې راځي دا به درته لیکم او درلیږم به یې . که ته پر دې لیکونو ډېره خپه کېدې ستا خاطر به دومره وکړم چې دالیکونه به نه درلیږم خو له ځان سره به یې ساتم. زه ستا لپاره له خپل عشق نه رنګین او شاعرانه جهانونه جوړوم .

نیمه شپه ده ،دریکشو اوازونه دشپې چوپتیا ماتوي . زه دخپلې تنها کوټې په کټ کې ناست یم او پر مخامخ مېز له ننګرهار څخه راغلي میلمانه نرګس راته سترګې سترګې دي . دیوه نرګس دګل پرپانه ستا دنوم اول او اخر توري لیکل شوي دي همدا نن مازدیګر مې په ښار کې دیوه ماشوم په لاس کې دنرګسو ګیډۍ ولیدې ماته یې دتېر کال دنر ګس ګلونه راپه یاد کړل چې وخت په وخت به مې اخیستل او ستا نوم به مې پرې لیکه . دتېر کال هغه نرګسي خاطرې رایادې شوې چې ته یو څه مهربانه وې .ما له ماشوم نه دنرګسو ګیډۍ ستا په نوم او زما دوطن په نوم واخیسته.ماشوم راته وویل چې دادکابل نرګس دي.زه پوه شوم چې دپېښور خلک ټول افغانستان ته کابل وایي .له نرګسه تر نرګسه غمونکې شپې مې یوه په یوه پر زړه راووریدې .له صدر نه تېر ماښام پلی راروان وم د خپل دفتر ترځای تاون پورې راتلم. په لاره کې مې « دشاعر او نرګس » په نوم یوه شاعرانه ډرامه ګې په زړه کې جوړیده

.ډېر خوشحاله وم چې یو تخلیق به وکړم او یوه کوچنۍ شاعرانه ډرامه گې به ولیکم. له نرگسو نه به پوښتنه وکړم چې له ننگرهار نه ولې راغلې ؟ولې داسې ستړي بریښې ؟ له تورخم نه څنگه راتېر شوې ؟ نرگس به له دې نه ډېر خوشحاله وي چې دخپل ځان غوندې غمجن او ستړی وطنوال یې پیدا کړی دی .دزړه خواله به راسره وکړي او خپل کوچني خوږ ک زړونه به راته تش کړي .دزخمي بلبلانو اوستړو بوراگانو کیسې به راته وکړي او دوطن دنجونو دتشواوربلونو کیسې به راته وکړي.زه په دې خیالونو کې راورسیدم .دنرگس گلونو ته مې گلدان جوړ کړ .دگلدان تېرې څوکې زما گوتې هم ژوبلې کړې .نه پوهېږم زما هغه ځیږه لاسونه ولې دومره تنکي شوي دي ؟دگلدان له اوبو سره مې دوه څاڅکي وینې هم گډې شوې .دنرگسو گلدان مې مخامخ پرمیز راته کېښود او دحال په ژبه مې ورته وویل ښه اوس کیسې وکړئ.نرگسو دخپلو کیسو پرځای ستا کیسې را واخیستې .اخ ظالمې ! زما په ټولو کارونو کې لاس وهنه کوې ، خدای دې انصاف درکړي .

۱۸/۱۱/۱۹۹٤پېښور ټاون ،نیمه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګینه ورکه

په ماشومو اداګانو دشاعر څنګ ته ورغلم. شاعر سترګې نه رپولې اوله ځانه ډېر لرې تللی و. ما پر خپلو څنګو لاسونه را تېر کړل او دبنګړو شرنګا مې خوره شوه خو شاعر خپل ځان ته رانغی. هغه لکه چې نه زما دپنګړو شرنګا اوریدلې وي او نه یې زما دڅنګو اولونګینو امیلونو خوشبویي حس کړې وي. همداسې په خپله ورکه پسې ورک و. یوه شېبه یې په څنګ کې ودریدم. ورو ورو او په منظم تا ل مې له ځمکې سره پښه وهله. دپایزیب نرۍ شرنګا مې دشاعر له تخیل سره دشاعر په ورکه پسې لیږله. له ځان سره مې وویل:

ـــ چې دا بیا په کومه رنګینه ورکه پسې ورک دی؟

زه یوې شېبې انتظار هم سترې کړم. ددې لپاره چې دشاعر پام دخپل ځان پلو راواړوم اوخپله ورکه زما په سترګو کې ولټوي په ناز ناز مې یو بیت ورته ووایه:

ـــ راځه په یوې ورکې پسې د واړه وګرځو
لاسونه کړو یو بل ته ورپه غاړه وګرځو

شاعر سترګې نه رپولې اوزما بیت یې وا نه ورید. په ناز او شوخۍ

مې ورته وویل:

ـ لیونیه سلام!

زما سلام یې ادا نه کړ او زه له خندانه شنه شوم. زما خندا په غرونو کې انګازه خوره کړه. شاعر دسترګو په رپ کې خپل ځان ته راوګرځید او ډېره سخته کړیکه یې وکړه:

ـ اخ ظالمې! مړدې کړم.

زه بیا له خندا نه شنه شوم او په خندا خندا کې مې ورته وویل:

ـ ولې خو تا به ویل چې خندا دژوند مالګه ده. خو تا به ویل چې زه او ته باید وخاندو.

زه بیا له خندانه شنه شوم او شاعر ته مې وویل:

ـ خانده کنه، خانده چې خندا مو سندریزه شي. شاعر نری زګیروی وکړ او زما پرخوله یې لاس کېښود:

ـ دخدای په خاطر مه خانده.

شاعرهمداسې نری نری زګیروی کاوه. لکه چې ما په زهرو لړلې تېره توره وهلی وي او بیا مې پر زخمونو ورته چاڼ شوې مالګه دوړولې وي. لږه شېبه وروسته دشاعر زګیروی غلی شو او ما ته یې ځیر ځیر کتل. سترګې یې له پوښتنو ډکې وې. ما یې په سترګو کې تولې پوښتنې ولوستې، د یوې پوښتنې ځواب هم راسره نه وځکه مې ځان تېر کړ او خبره مې په بله واړوله.

ما ځان دماشومې غوندې مرور کړ او پر تنده مې ګونځې راخورې کړې. ماشوم ناز مې له ماشوم قهر سره ګډ کړ او شاعر ته مې وویل:

ـ ته چېرې تللی وې؟

ـ په یوې ورکې پسې.

ـ په کومې ورکې پسې؟

ـ په یوې ښکلې او رنګینې ورکې پسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ ودې نه موندة؟

ـــ نه !

ـــ اوس يې نه لټوې ؟!

ـــ ولې نه ،اوس يې هم لټوم .

ـــ اوس يې چېرته لټوې ؟

شاعر موسکی شو او راته ويې ويل:

ـــ ستا په سترګو کې.

ماته خندا راغله خو ډېر ژر مې ځان له خندا نه وساته.

شاعر همداسې زما په سترګو کې سترګې ګنډلې وې . ماورته وويل:

ـــ خبرې وکړه .

شاعر وويل:

ـــ رانه ورکې دې .

بيا خندا راغله خو ومې نه خندل .

يوه شېبه چوپه وم خو له چوپتيا نه په عذاب شوم . ځان مې يو څه زړور کړ او د شاعر د جيبونو په لټولو مې پيل وکړ. شاعر حيران شو او راته ويې ويل :

ـــ څه شی لټوې ؟!

ماورته وويل :

ـــ خپله ورکه لټوم .

شاعر وويل:

ـــ ستا ورکه څه نومېږي ؟

ما ځواب ورکړ:

ـــ ستا سندرې .

ما د شاعر له جيب نه شعرونه را وايستل. شاعر وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ داخو ټول تاراوړي دي او ټول به تاته یاد وي .

زه حیرانه شوم او په خپل یاد مې زور را وړ :

ـــ ما کله راوړي دي ؟

په یاد مې نه شول خو دشعرونو په لوستلو مې پیل وکړ. دشعر هر توری لکه یوه اوښکه او په هره اوښکه کې یوه سلګۍ .دشعرونو مضمون لکه زخمونه او دردونه . دیو څو شعرونو له لوستلو وروسته مې سترګې له اوښکو ډکې شوې او وړې وړې سلګۍ مې پیل کړې .شاعر ناڅاپه کړیکې وکړې:

ـ اخ ظالمې مړ دې کړم .

ما په ژړا ژړا کې په ډېرې عاجزۍ ورته وویل :

ـ ولې ما خو څه خندلي نه دي !

شاعر په زګیروو کې راته وویل :

ـ خو اوښکې هم مالګینې دي .او دژوند دزخم لپاره .....

خبره یې پوره نه کړه او نري نري زګیروي یې پیل کړل لکه زما خوب چې چا په زهرو لړلې تېره توره وهلی وي او پرزخم یې چاڼ شوې مالګه دوړولې وي .

زه له خوبه راویښه شوم او شاعر دیوې رنګینې ورکې غوندې را نه ورک شو.

۱۳/۱/۱۹۹۵ پېښور دشپې څه باندې یوه بجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښته

لکه چې اوس هم دهغې تنکۍ لښتې شغ اورم .زموږ استاد ډېر قهرجن سړی و. له چا نه به چې پرونی سبق هېر و په تنکۍ لښته به یې واهه .استاد به هر سهار له خپل ځان سره یوه ګېډۍ تنکۍ لښتې راوړې او دټولګې په کنج کې به یې نېغې کېښودې .موږ به یو ځل خپلو کتابونو ته بیا په کنج کې دتنکیو لښتو ګېډۍ ته بیا تورې تختې ته او بیا داستاد دتنډې تختې ته وکتل .موږ به داستاد په تنډه کې رڼا یې لټوله .که داستاد په تنډه کې به مو یوه ذره موسکا ولیده په زړونو کې به خوشاله شوواو که داستاد تنډه به تروه وه زموږ زړونه به لکه دمنې پاڼې ورپېدل او په زړونوکې به دلاسونو سوی راوګرځیده .زموږ په زړونو کې به سرې لیکې تېرې شوې .استادبه وویل:

ــ تاسوباید سبق په یاد کړئ ! له تاسو نه باید سبق هېر نه شي !

زه نه پوهېږم چې تاسې ولې له سبق سره مینه نه لرئ ؟!

مابه په زړه کې وویل :

ــ یاخدایه ته مې له سبق سره مینه پیداکړې .یاخدایه ته مې داټول کتاب داسې په یاد کړې چې یوټکی هم رانه هېرنه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ به د ټولګي پرزاړه پېڅول ناست وو ،استاد به زموږ په منځ کې ګرځېده اولکه پولیس چې د ډېرو خلکو په منځ کې مجرم لټوي که له استاد سره به موستر ګې ولګیدې لکه سړی چې بربښنا ونیسي ټکان به مو وخوړ اوستر ګې به مو له استاد نه بل خواواړولې .استاد لکه زموږ په زړونو کې چې ناست وي ،زموږ له منځ نه به یې هغه څوک د پروني درس دیادونې لپاره پورته کړ چې پرونی درس به یې هېر شوی و .بیا به مو ناڅاپه داستاد د تنکۍ لښتې شغ واوریده .له چانه به چې پرونی سبق هېر و ټول به یې تنکیو لاسونو ته په تنکیو لښتو ووهلو .داستاد تنکۍ لښتې سخت سوی درلود .موږ ټول ماشومان ووچې استاد به ووهلو خامخا به موژړل .کومو هلکانو به چې داستاد له لښتې ژړلي وو بیا به نورو هلکانو ملنډې پرې وهلې او ورته ویل به یې :

ــ ته خو ډېر ژاړن یې !

هلکانو به زړونه ټینګول چې داستاد له لښتې ونه ژاړي چې د نورو هلکانو د پېغور نه شي .هغه ورځ مې اوس هم په یاد ده لکه داستاد دلښتې شغ چې اوس هم اورم .له مانه پرونی سبق هېر شوی و .زه په ټولګي کې ډېر خپه ناست وم .له ځان سره مې ویل :

ــ اف خدایه داسبق له مانه ولې هېرېږي ؟ دازه ولې سبق نه شم یادولی ؟

په زړه کې مې ډېرې دعاګانې کولې :یاخدایه ته خو نن داستاد سترګې پرماوتړې چې هېڅ مې ونه ویني .یاخدایه! ...یاخدایه...

یو وار اللحمد اودرې واره قل هو والله احد مې وویل اوپر ځان مې چوف کړل .....بیا مې الحمد الله پیل کړه لا مې پوره کړې نه وه چې استاد راباندې غږ کړ :

ــ ته پاڅه پرونی سبق ووایه !زه لکه پاڼه رپېدم د درس له ویلو وړاندې مې خپل ښی لاس استاد ته دوهلو لپاره وړاندې کړ .دوه درې

لښتې يې سخت سخت ووهلم .ښي لاس مې دڅلورمې لښتې تاب نه درلود .بيامې کيڼ لاس داستاد تنکۍ لښتې ته دوهلو لپاره وړاندې کړ .استاد کيڼ لاس ته هم خپله تنکۍ لښته بېدربغه راخلاصه کړه. لښته زما پر کيڼ لاس باندې ماته شوه خو زما په کيڼ لاس کې يې ژوره تغمه جوړه کړه .سخت درد مې حس کړ خو دنورو ټولګيوالو له پېغوره مې زړه ټينګ کړ. لاسونه مې په تخرګونو کې ونيول او له ځانه سره مې پټ پټ ويل:

ـ وی الله ... وی الله .... استاد ته مې پټې پټې په زړه کې ښېرې کولې .استاد راته ويل :

ـ له تانه همېشه سبق هېر وي. ته له سبق سره هېڅ مينه نه لرې .ماخپل کيڼ لاس ته وکتل دکيڼ لاس په تنکي ورغوي کې مې تغمه غځيدلې وه او سخت سوی يې کاوه .

اوس له هغه ماشومتوب نه ډېر کلونه تېرشوي دي خو زما دکيڼ لاس په ورغوي کې دتنکۍ لښتې تغمه اوس هم ژوندۍ ده .دې تغمې ته چې ګورم ټول سبقونه رايادېږي .اوس مې هېڅ سبق نه هېرېږي ،اوس مې له کتابونو سره مينه پيداشوې دد .اوس مې هېڅوک لاسونو ته په لښتو نه وهي .اوس همېشه کتابونه ګورم ، سبقونه وايم .اوس مې سبقونه ښه يادېږي .يادېدل خو څه کوې چې هېڅ مې نه هېرېږي .اوس مې له کتابونو سره مينه پيداشوې دد .اوس مې له تنکيو لښتو سره هم مينه پيداشوې ده .لښتې لويې لويې ونې شي .ځنګل شي .باغونه شي ،ميوې نيسي ،سيورې خوروي. لښتې سرې ته يو څوک وريادوي .داسې يو څوک چې دګلونو غوندې ښکلې نوم لري .چې دتنکۍ لښتې غوندې ځواني لري ..چې باد يې نه شي ماتولی .چې پرسر ګيډۍ ګيډۍ ګلونه ګرځوي .چې ګلان يې خزان نه شي ريژولی .

دې پخوامې په يو کتاب کې لوستي وو.....نه نه توبه مې دې

وي خدايه ،زما ديوه ورک شعر يوه کړی وه:

ـ « دغزل مسري لکه دزړه تغمې دي .داسې تغمې چې يو خوږ درد لري. دخپل ورک شعر داکړی زما هېڅ نه هېريږي . بيخي لکه زما دزړه تغمه داسې ده .لکه يوچاچې زما زړه په تنکی لښته وهلی وي. لکه چې لښته زما دغزلونواو سندرو استاده وي.

۱۹۹٤/۱۲/۳ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلرکلي ملنګ

څه موده کیږي چې زه لیوني سپي خوړلی یم. زما په ستوني اوتتر کې دلیوني سپي دغاښونو زخمونه دي اوزما پرمخ باندې دلیوني سپي نوکارو ژورې لیکې تېرې کړې دي. داسې بریښي چې دلیوني سپي لیونیو زهرو زما پرزړه او دماغو اغېزه کړې وي. زه کله کله ناڅاپه لیونی ژړا پیل کړم او کله کله له لېونی خندانه شین شم. زما لېونی ژړا او لېونی خندا زما له ګاونډیانو خوبونه تښتوي. کله چې ژاړم زما اوښکې زما پرمخ دلیوني سپي دنوکارو په ژورو کرښو کې رابهیږي. تودې اوښکې مې وچ زخمونه تازه کوي او یو تریخ درد راکوي. کله چې له خندانه شین شم د تتر او ستوني زخمونه مې هم خولې خلاصې کړي او د درد لیونی څریکې په کې را ویښې شي.

بیګامې هم یو لېونی خوب لیده. زموږ دوطن پاچا مې په خوب لیده. پاچا پر یوه ځلیدونکي اس سپور وي. توره دریشي یې اغوستې وي او دخولی په تاج کې یې دباز تصویر وي. په پاچا پسې وروسته یو لوی لښکر روان وي. ټول لښکر توري دریشی اغوستې وي. دپاچا له زرین آس نه وړاندې یو تخت روان وي او پر تخت باندې

تابوتونه وي . تابوتونه په گلونو کې پټ وي. پر گلونو باندې دشاتو مچۍ او بوراگان هم گرځي . په فضا کې یو غیبي غمجن موزیک دروان تخت پر سرد تابوتونود درناوي لپاره غږول کیږي . ټول لښکر ورو ،وروسلگۍ وهي . د ټول لښکر له ستر گونه مړې مړې اوښکې رابهیږي . د پاچا له ستر گو نه هم غبرگې غبرگې ځلیدونکې اوښکې رالویږي . د پاچا د ځلیدونکي آس په ستر گو کې هم اوښکې پنډې وي . زه د پاچا په ستر گو کې اوښکو ته بیا د لښکر اوښکو ته اوبیا په گلونو کې پټو تابوتو نو ته گورم. په زړه کې راگرځي چې په تابوتونو کې مړي به لیونو سپو خوړلي وي . ماته هم ژړا راځي او ورو ،وروسلگۍ وهم .موزیک لا پسې غمجن کیږي اوزه د موزیک له غمگینو څپو سره تېرو وختونو ته ځم. هغه وخت چې زه د مکتب په لومړي ټولگي کې وم . پاچا زموږ کلي ته راغلی و. د سپوږمۍ غوندې پرتک سپین آس سپور و. د ستورو غوندې تکې سپینې جامې یې اغوستې وې او دلمر غوندې تک سور او ځلیدونکی تاج یې پر سر و . د تاج پرسر یوه ځلیدونکي باز وزرې غوړولې وې . د پاچا ټول لښکر تکې سپینې دستورو غوندې دریشۍ اغوستې وې . د خوشحالۍ موزیک په فضا کې خورو. د پاچا پرسر د سپینو کوترو سیلونو دوره وهله . خلکو به ویل چې دا د سخي صاحب د زیارت کوترې دي . چا به ویل چې له ارم نه د وزرو په جامو کې ښاپېرۍ راغلې دي او چا به آن د پرښتو گومان پرې کاوه. زموږ د کلي سپین سرې د پاچا لیدو ته کتار ولاړې وې . د دوی دا پخه عقیده وه چې که هر چا د پاچا مخ ولیدو د دوزخ اور پرې حرام دی . موږ د مکتب ټولو هلکانو پاک کالي اغوستي وو . په لاسونو کې مو د گلونو گیډۍ نیولې وې او په ټوله لار د مو گلونه شیندلي وو . موږ پاچا ته ترانه ویله . د ترانې کړۍ وه: ((عمر دې ډېرشه پاچا)) پاچا له آس نه راکوزشو او پلی زموږ پر خوا راروان وو. ماشومانو گلونه پرې شیندل او پاچا یو یو ماشوم پرتندي

ښکلولو .کله چې زما دښکلولو وارشو په مینه مې د پاچا په سترګو کې سترګې وګنډلې .د پاچا په سترګوکې دخوشحالۍ اوښکې لکه ستوري وځلیدې .زما په سترګوکې هم دخوشحالۍ اوښکې راغلې .پاچا پرتندي ښکل کړم اوزما پرمخ یې لاسونه راتېرکړل .

# # #

دموزیک یوې بلې غمجنې څپې له تېرو وختونو بیرته راوګرځولم .د پاچا په سترګو کې دوه څاڅکي اوښکې لکه دوې هندارې ځلیږي .په دې دواړه هندارو کې مې دلر کلي دملنګ یو تصویر ولید .د تصویر په لیدو مې ټول هغه ملګري راپه یاد شول چې ما غوندې له پاچا په لر کلي کې اوسیږي او ټول ما غوندې لیونو سپو خوړلي دي .له پاچا نه مې کرکه راغله په زړه کې راوګرځیدل چې زموږ پاچا به خامخا دلر کلي ملنګ ته ازا ر رسولی وي .ورو وروجلالي کیدم .له تابوتونو تېرشوم .په رپیدلو شونډو مې په ګلونو کې پټو تابوتونو ته دعاوکړه او نېغ د پاچا دځلیدونکې آس خواته ورغلم .مخکې له دې چې پاچا ته لاس ورواچوم او له آس نه یې لاندې راوغورځوم پاچا په خپله له آس نه راکوز شو .پاچا دیوه لوی حکیم او روح پیژندونکي په څېر زما په سترګو او څېره کې هرڅه لوستلي وو .بې له دې چې پوښتنه ترې وکړم یو سوړاسویلی یې وکړ .له سترګو نه یې در در اوښکې تویې شوې او داسې یې راته وویل :

ـ دېر کلونه وړاندې دلر کلي ملنګ راغلی و .زه دملنګ سلام ته له تخت نه راکوز شوی وم .دملنګ په کچکول کې مې ددنیا تر ټولو ښکلې او قیمتي مرغلره چې شاعران او عارفان یې دخدای او دمینې کور بولي اېښې وه .....

زه بیا جلالي شوم د پاچا ګریوان ته مې لاس واچاوه:

ـ نو بیا ولې لیونې سپې راشکاري ؟نو بیا یې ولې دلیونې سپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرمن اغوستې ده .راکړه ځواب راکړه .ما د پاچا پر مرۍ زور وکړ .سا مې بنده بنده شوه زخمونو مې درد وکړ .ناڅاپه له خوبه راویښ شوم .لاسونه مې په وینوسره وو. ټول ګاونډیان مې پر چیغو او نارو له خوبه راپاڅیدلي وو .یو بل ته یې سره ویل : دا لیونی وګورئ!

۱۹۹۵/۱/۲٤ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاشقانه لیکونه

له هره کاره یې ویستی وم. همیشه به مې عاشقانه لیکونه ورته لیکل او وراستول به مې. لنډه دا چې سم مجنون یې رانه جوړ کړی و. زه لپاره ولیده. زه به دښار په څلور لارو کې لیونی لیونی ورپسې ګرځیدم. چې سره مخامخ به شوو له ډېرې حیانه به تکه سره شوه. دسر په اشاره به یې سلام وکړ او په سترګو کې به یې یوه دنیا مینه راکړه. نه پوهېږم چې په سترګو کې یې دکوم جادو اثر و. ما به داسې وانګیرله چې دښار په څلور لاري کې هېڅ ژوندی ساری نه شته. دموټرو او ریکشو عذابوونکي غږ ونه مې له سره نه اوریدل. لکه دوه په دوه چې په یوه لویه دښته کې ولاړ وو. زما به یې دسر په سلام دزړه سود ونه شو. دستړي مه شي لپاره به مې لاس وروغځاوه. هغې به هم لاس په ویره را اوږد کړ. دهغې پوست او غوښن لاس به مې لکه دحضرت خضر لاس خوږ او څه لږغوندې کلک په لاس کې ونیو. په ګوګل کې به مې په عمودي ډول خو ږي خوږي څرېکې وغځېدې او یوه شېبه به ځان راته دمینې پاچا وبرېښېده. ما به یې سترګو او مخ ته کتل. په انګو به یې دحیا سره تله

او راتله .په ترتري ژبه به يې زما نوم واخيست :

-« .....زما بيره ده زه به لاړه شم ! »لکه ژوندی کب چې دسړي له لاسه و ښوييږي داسې به يې لاس زما له لاس نه وښوييده .ما به هم په زړه نا زړه ورته وويل :

- په مخه دې گلونه.

زما له مخه ښي سره به داسې موسکی موسکی روانه شوه لکه قدم په قدم چې گلونه په بدرگه ورسره ځي .زه به ترهغې پورې په همغه ځای پورې ميخ وم چې دښار په گڼه گوڼه کې به رانه پنا شوه .دموټرو او ريکشو بوږنوونکي غږونه به مې واوريدل .زړه نازړه به راروان شوم .ټولو لارويو به راته کتل او ځينو کسانو به يو بل ته څه سره ويل .ماته به يې وکتل او بيا به يې په خپلو کې سره وخندل .زه به دښار له گڼه گوڼې را ووتم او دخپل زړه په خلوت کې به مې دمينې رياضت پيل کړ .دې رياضت به يو ډول عاشقانه او کلاسيکه خوشحالي هم لرله .زه په دې رياضت داسې روږدی شوی وم چې ملگري او دوستان به مې په ټوکو او خبرو بوخت پرايښي وو او زه به دزړه په خلوت کې غلی ناست وم .دکوم ملگري به راپام شو له خندانه به شين شو او بيا به يې دمجلس نورو ملگرو ته ورو ښودم

- دا بيا چيرې تللی دی ؟ يوه بل ملگري به مې وويل :

- هلکه مين خو به نه يې ؟

دپخوا په څېر مې له خپلو ملگروسره ټوکې ټکالې نه کولې .که په مجلس کې به پر يوه مهمه خبره خبرې پيل شوې ما به هم يو څو خبرې وکړې.خپلو خبرو به خوند رانه کړاو دخپلې مينې په باب به مې تصور پيل کړ .له سياسي بحثونو مې بد راتلل. که به مې ملگرو سياسي خبرې اوږدې کړې زه به ډېر په عذاب شوم .ما به په زړه تنگی سره ورته وويل :

- خدای ته وگورئ داخبرې پريږدئ! ملگروبه مې وخندل او راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبه يې ويل :

ـ ستا ولې زړه په تنګ شو ؟ همدا زموږ دوطن تراژيدي دنړۍ لپاره دورځې خبره ده . زموږ چې خپل وطن دی دخپل وطن په باب خو بايد خبرې وکړو .

ما به ورته وويل :

ـ په خبرو خو وطن نه جوړيږي . دوی به راته وويل :

ـ نو په څه شي جوړيږي ؟

ما به ورته وويل چې په مينه جوړيږي .

ملګرو به مې په خندا خندا کې راته وويل :

ـ چې سياسي خبرې دې نه خوښيږي نو ته ووايه دڅه شي په باب خبرې وکړو ؟

دملګرو ددې پوښتنې لپاره به زما دزړه ځواب دا و ،چې دمينې په باب خبرې وکړئ .

ما به په زړه کې وويل :

ـ کاشکې دوطن په باب يې هم دهغې غوندې ښکلې خبرې کړې وای له چا سره چې زما مينه ده . ملګرو به راباندې غږوکړ :

ـ تا ته وايو دڅه په باب خبرې وکړو ؟

ټولو ملګرو به مې په کړس کړس وخندل .

له يوې ورځې نه به بلې ورځې ته بدليدم او دهغې دمينې په باب په خيالونو کې ډوبيدم . تر نيمې شپې به وينې ناست وم او دهغې په باب به مې فکر کاوه . عاشقانه ليکونه به مې ورته ليکل او ورليږل به مې . تر يوې مودې خو مې دا ليکونه له خپلو ملګرو پټ وساتل . زړه مې له دې پټ رازنه ډک شو او نور دراز ساتلو يود ذره ځای هم په کې نه و . دومرد له دې عاشقانه رازو نو ډک شو چې نښې يې زما په خبرو کې وځليدې . دانښې نښانې زما ملګرو وليدې او په هر څه وپوهيدل . زما دعاشقانه

لیکونو خبرې زما د ملګرو د مجلس خبرې شوې . ما به هغې ته بیا بیا عاشقانه لیکونه ورلیږل خو هغې به چې پخوا کله نا کله د یوه نیم لیک لنډ غوندې ځواب راکاوه اوس یې له ځواب لیکلو قسم کړی و . لکه زما لیکونه چې هیڅ ورته رسیدلي نه وي ، لکه زما لیکونه د مني دونو پاڼې وي چې سړې سیلۍ یې یوه خوا او بله خوا تښتوي .

لنډه داچې زما په دې نوې غوړیدلې سپرلنۍ مینه ډېره ژر د مني سپېږه سیلۍ راوالوته . ما دې پوښتنو ته هیڅ ځوابونه نه لرل:

ـ هغه ولې داسې ژر بدله شوه ؟

ـ هغه زما پردې لیونۍ مینه ولې شکمنه شوه ؟

بیا مې په زړه کې وویل : ما خو همیشه په خپلو لیکونو کې هغې ته لیکلي چې تاسره مینه کول د یوه ډېر پټ راز په څېر په زړه کې ساتم .

بیا مې په ځان پورې وخندل او ځان ته مې وویل :

ـ هغه زما په زړه کې اوسیږي ، د هغې یادونه هم زما په زړه کې اوسیږي . د هغې د مینې تول رازونه هم زما په زړه کې اوسیدل . اوس خو هغه رازونه زما له زړه نه تللي دي او دنیا پرې خبره ده . داچې هغه او د هغې رازونه سره ګاونډیان وو یو ګاونډی د بل ګاونډي له حاله خبریږي . ما چې د هغې ګاونډیان ونه ساتلای شول د مرور توب حق خولري . بیا به مې ځان ته تسله راکوله چې خدای به یې راپخلا کړی . مرور توب هم یو ډول مینه ده . مروره خو دې وي خو خدای دې وکړي چې له ماسره یې کرکه نه وي پیدا شوې .

اوس مې له مخکې نه هم ډېره په زړه را وریده . هره شېبه مې د هغې په باب فکر کاوه . که پرلاره به تلم هم د هغې په فکر کې به وم او که په دفتر کې به په کار بوخت وم هم د هغې په باب مې فکر کاوه . تر نیمې شپې به یې په یاد کې یوازې ناست وم او په یاد یاد کې به یې خوب یووړم .

نن چې زمور ددفتر دلويې او سپنيزې دروازې زنګ ووهل شو زه دخپل کار دکوټې پر ځای په يوه بله کوټه کې دکوم عاشقانه ليک په ليکلو بوخت وم . په زړه کې مې وويل : ځه چې هر څوک وي هسې هم څوکيدار په دروازه کې شته . په دې منځ کې يوه شيبه تېره شوه ،عاشقانه ليک دې ځای ته ورسيد :

ـ « ښه ! ته ولې له مانه مروره يې ؟ »

ددې جملې له ليکلو سره سم ددروازې دزنګ وهونکې په فکر کې شوم . په شپږم حس کې را وګرځيدل :هسې نه چې هغه زما پوښتنې ته راغلې وي ؟عاشقانه ليک مې په دې جمله چې

« ښه ! ته ولې له مانه مروره يې ؟ » بس کړاو له نورو هغو عاشقانه ليکونو سره مې په يو کتاب کې کيښود چې دهغې دمرورتوب په زمانه کې مې ليکلي وو او ورليږلي مې نه وو . کتابونه او ليکونه مې را واخيستل او خپل دفتر ته راغلم . په دفتر کې ددروازې څوکيدار ولاړ و ،زما په ليدو حيران شو او سمدلاسه يې راته وويل :

ـ ته چيرته په دې سپينه ورځ ورک وې ؟! څوکيدار يو ډول دمينې او ناز په انداز کې راته وويل :هغې غريبې خويوه شيبه انتظار هم وکړ خو ته پيدا نه شوې .ډېر مې ولټولې ته په کوم کونج کې غلی وې ؟دڅوکيدار له خبرو او دده له څېرې نه په هر څه وپوهيدم .زړه مې په ګوګل کې په ټوپو شو .څوکيدار ته مې وويل :

ـ ته څوک يادوې ؟! چازما پوښتنه کوله ؟

څوکيدار راته وويل :يوه لوړه ښايسته نجلۍ وه ،سرې جامې يې اغوستې وې ،مخ يې نيم پټ و او ليونۍ غوندې سترګې يې وې .

په شونډو کې مې ورو وويل :

ـ ليونۍ غوندې سترګې يې وې .....

دخاطر په هنداره مې دهغې تصوير راغی .کتابونه او ليکونه مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګ کې را واخیستل او بې له دې چې د دفتر له آمر نه اجازه واخلم لیونی لیونی له دفتره راووتم . دسترګو په رپ کې د ښار څلورلارې ته راورسیدم یو خوا او بل خوا لیوني لیوني ګورم . په ښار کې ګڼه ګوڼه ده . موټرې دې خلک دې یوخوا بل خوا روان دي . زه لالهانده او لیونی لیونی یو خوا ګړندی ګړندی لاړشم بیا را وګرځم . زه داسې انګیرم چې ټول خلک ماته ګوري خو خلک دومره وزګار نه دي چې ماته وګوري او ننداره مې وکړي . زه د سرو جامو والا لوړې ښا یسته نجونې چې مخونه یې نیم پټ وي ګورم . د سرو جامو والا لوړې او ښا یسته نجونې ډېرې وي خو دلیونو سترګو والا یوه هم په کې نه وي . زه له ځان سره وایم : اف خدایه ! څه شوه ؟ چیرته ترې تم شوه ؟ چې دا به څنګه راغلې وي ؟ چې زما عاشقانه لیکونه به ټول زما په وړاندې څیرې کوي او اور به ورته اچوي او که زما مینې ته به د احترام سر ټیټوي ؟

زه د سړک پر غاړه لالهانده روان یم ، یو خوا بل خوا لیوني لیوني ګورم . پر هیچا مې سترګې نه خوږیږي . همهغه لیونی سترګې لټوم . ناڅاپه مخامخ سترګې اړوم ، یو ښا یسته موټر راروان دی . د موټر واګې د یوې لوړې او ښا یسته نجلۍ په لاس کې دي . د نجلۍ کالي تک سره ، ښکلی مخ یې نیم پټ او لیونی لیونی سترګې یې دي . زه په زړه کې وایم چې خپله ورکه مې وموندې ، اوس به مې له دې څلور لارې اوله دې ګڼه ګوڼې ډېر لرې یوه ښکلي او آرام ځای ته یوسي او هلته به زما لیونی مینې ته د درناوي سر ټیټ کړي .

زما پر وچو شونډو سوېمنه موسکا خوره شي . د کیسو د یوه سوېمن اتل په څیر ولاړ یم او د ښا یسته نجلۍ د ښکلي موټر د ودریدو انتظار ګالم . موټر رانژدې شي او زما سترګې د ښا یسته نجلۍ د لیونو سترګو له ځلانه وېرېږي . موټر ډېر ګړندی تیریږي خو د تیریدو په حال کې مې ډېر سخت ووهي . زه د سړک پر غاړه ډېر سخت را وغورځم . زما پر کتابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښايسته نجلۍ دموټر ټايرونه تېر شي . کتابونه مې پاڼې ،پاڼې شي او دکتابونو له منځ نه زما عاشقانه ليکونه باد خواره واره کړي .ډېر خلک پرما راټول شوي وی خو چې خواره واره ليکونه ووينې زه په خالي ميدان پاتې شم او خلک زما په عاشقانه ليکونوپسې خواره شي . دښايسته نجلۍ موټرمخ په بره گړندی روان وي .دشا له خوا دپوليسو موټر دخطر دسرو څراغونو او بوږنوونکي هارن سره دښا يسته نجلۍ موټر څاري .زه نه پوهېږم چې ولې ښايسته نجلۍ ته په زړه کې دعاکوم :

ـ خدای دې يې په پوليسو ونه نيسي ،پوليس ډېر ظالمان دي .ها خوا زما عاشقانه ليکونه ټولو خلکو نروا او ښځو را اخيستي وي .يو څوک داجمله په لوړغږ سره لولي :

ـ« ښه! نو ته ولې له مانه مروره يې ؟ » ددې جملې په اوريدو ټول خلک په برک برک خاندي او په دې خندا پسې زه هم له درانه خوبه راويښ شم .

۱۹۹٤/۱۲/۱۵ نيمه شپه ،پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرښتې د لاس غوټه

دزمانې له اوږې نه راکوزه شوې وه . کاغذونه او قلمونه يې دراز دغوټې په څېر په لاسې بکس کې اچولي وو . زمانه يې په لاسې بکس کې اچولې وه ، لاسې بکس يې اوږې ته اچولی و . سپين مخ ، سره اننګې ، تورې څنې لکه لوګی پرسر ګرځنده ډيوه دښار په څلور لارې کې ګړندۍ ګړندۍ روانه وه . اخوا دې خوا يې ليوني ، ليوني کتل . لکه کوم صوفي او فلسفي چې دبنيادمو په ډک ښار کې په رڼا ورځ ډيوه په لاس انسان لټوي .

موراوپلار پرې دډيوې نوم اېښی و . لوی خدای پرې دشاعرۍ اوليکوالۍ ګلونه لورولي وو . ډيوه ديوه لرې کلي اوسيدونکې وه خو کله کله به په نويو شعرونو پسې په ښار کې هم ګرځيده . لکه دشاتومچۍ به يې دغزل دګلپاڼو قافيې راټولولې . کله کله به افسانې په دې پسې ګرځيدې ، شعرونه به ورپسې ګرځيدل او دغزلونو قافيې به ورپسې ګرځيدې .

نن ورته ځان په رښتيا پرښته بريښيده . دلاسې بکس بند يې په

کینه اوږه کې اچولی و ،اولاسي بکس به يې کله کله له زړه سره ټينګ ونيو . په زړه کې به يې خوږې ،خوږې څرېکې وغځېدې . په بکس کې يې له غزلونو ، شعرونو ،داستانونو او قلمونو سره سره دډيوې دشعرونو دمينه وال او عقيدت مند هغه ليک هم ملګری و چې ډيوې ته يې دپرښتې لقب ورکړی و . دخپل هنر دمينه وال پردې خبره چې دې ته يې دپرښتې لقب ورکړی و سوچ کاوه :

ـ داڅنګه ليونی دی چې ماته دپرښتې لقب راکوي ؟هسې نه چې په دې خبره ګنهګارشي .انسان ته دپرښتې ويل توبه خدايه ! زه خو انسان يم ،انسان خو هميشه له سهوې او خطاسره دی .بيابه په زړه کې وروګرځيدل :

ـ « زما دهنر اوشعرمينه وال به هسې ځان ليونی ښودلی وي کيدای شي له خپل ليونتوب سره سره به په ډېر څه پوهيږي .زما په خيال دداسې ليونې له خوا ماته دپرښتې لقب راکول له شاعرانه تشبيه سره سره فلسفي او معنوي ريښه هم لري .ځکه انسان دلوی خدای خليفه دی .انسان اشرف المخلوقات دی .دانسان مقام له پرښتو نه هم اوچت دی .انسان ته خو پرښتو هم سجده کړې ده ،کيدای شي دپورتنيو دليلونو په رڼا کې به يې ماته هم دپرښتې لقب راکړی وي . »

ډيوه په دې چورتونو کې ډوبه وه چې يو چايې ناڅاپه اوږې ته لاس واچاوه اولاسي بکس يې دسترګو په رپ کې ترې يو وړ . ډيوې کړيکه وکړه :

ـ دشيطان زويه !

ډيوه لکه بريښنا نيولې په ځمکه پورې ميخ شوه ، رنګ يې سپين تښتيدلی و او په زړه کې يې له ټولونارينه وو سره کرکه راغلې وه .څوګامه وړاندې پر موټر سايکل سپاره ځوان ددډيوې په لورې مخ راواړاوه .ددډيوې لاسي بکس يې په لاس کې وزنګاوه ،په زوره زوره يې

وخندل او موټرسایکل یې مخ په وړاندې ګړندی روان کړ. ډیوې ورپسې کتل خو ځوان دبنیادمو او موټرو په منځ کې له سترګو پناه شو. لږه شیبه وروسته ځوان هلک له موټر سایکل سره دخپلې لویې بنګلې په باغ ورننووت ،په درنګ شیبه کې یې دخپلې ډلې اندیوالان راټول کړل زنګ یې وواهه. دسترګو په رپ کې دپاخه عمر یو سړی چې پلن ټټر، قوي اندامونه ،فولادي لیچې او توري غټې غټې سترګې یې لرلې راغی او ځوان ته یې وویل:

ـ جي صیب! څه مو ویل؟حکم!

ځوان دښځینه لاسي بکس زنځیر خلاص کړ ،په بکس کې یې لاس وواهه. ټول شیان یې له بکس څخه راوایستل ،له خندانه شین شو:

ـ داخو ټول کاغذونه او قلمونه دي ،دا یو څو روپۍ خو هم په کې دي.

دځوان ملګرو په بړک بړک وخندل. ځوان په داسې حال کې چې پرڅیره یې دبریالیتوب اوغرور نخښې غځیدلې وې خپل جیب ته لاس کړ. له جیب نه یې دپیسو بنډل را واخیست. یو څو نوټونه یې نوکر ته ورکړل. دپاخه عمر نوکر ته یې په ظنزیه انداز وویل:

ـ هلکه موټر دې ستارټ کړه !دسترګو په رپ کې څه مېوه ،مېوه ،بسکټ مسکټ راوړه چې نن تاسو ټولو ته یوه نوې او خوندوره خبره کوم. داسې خبره چې نه به مو لیدلې وې نه به مو اوریدلې.

دپاخه عمر نوکر پیسې واخیستې موټر یې چلان کړ او دبنګلې دباغ له لویې دروازې راو، ووت. لږه شیبه وروسته یې دخوراک څه شیان راوړل. ځوان په خنداخندا او په یو ډول ویاړ له نجلۍ نه دبکس دتښتولو کیسه وکړه. ځان ورته دفلمونو بدماش برینبیده. دلاسي بکس کاغذونه او قلمونه یې سره واړول راواړول. دیوه لیک عنوان یې په لوړ غږ واوراوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ((دشعرونو او هنر د پرښتې په نوم))له دې سره ټولو په کړس کړس وخندل .دډلې له ملګرو نه يې يوه شوخ ملګري په طنز يه انداز وويل:

ـ هلکه سمه پرښته دې ازار کړې ده ،هسې نه چې عملنا مه دې په سره قلم وليکي او دوزخ ته دې وليږي.

بدمعاش هلک يې بيا کاغذونه واړول راواړول او ويې يل :

ـ اوهو شاعره هم ده .غزلې يې ليکلې دي .چې هم پرښته ده او هم شاعره داسې بريښي چې دخلکو عملنامې يې ليکلې دي.عاجزه عملنامې مې ترې وتښتولې خدای ته به څه ځواب وايي ؟بدمعاش هلک په خوشالۍ چيغې وکړې :

ـ تاسې غوږ شئ يو داستان يې ليکلی دی .زه يې داستان درته اوروم .تاسې ټول راته غوږ شئ چې پرښتې داستان ليکلی دی که دچا عملنامه ؟دداستان نوم دی ((دصيب دکشرې بي بي زوی))

ښه !داستان داسې پيل کيږي:

ـ دځوانۍ عمر يې په چرچو او ميلو کې تير کړ .په پاخه عمر کې يې له يوې ډيرې ښايسته تنکۍ پيغلې سره واده وکړ .خپله ناوې يې له سرنه تر پښو پورې په سرو او سپينو کې پټه کړه .دناوې کورنۍ ته يې په لکونو پيسې او نور سره او سپين ورکړل .څوکاله وروسته يې له يوې بلې څوارلس کلنې نجلې سره واده وکړ .بالاخره ډير کلونه وروسته چې دعمر پانه يې په ژيړيدو وه له يوې بلې چټې او پخې پيغلې سره واده وکړ .داواده په داسې درب او دروب تر سره شو چې په ټول وطن کې يې يو ريکاډ ټينګ کړ .دملک لويو لويو وزيرانو ،سياست مدارانو ،لويو لويو تجارانو ،مشهورو ډمواو سرودګرانو ګډون په کې کړی و .دناوې پر کاليو ،لاسونو او پښو سره نه ځاييدل .دناوې دنګه غاړه دالماسو اميلونو درنه کړې وه .څه موده وروسته دصيب کشرد او نوې بي بي په يوه داسې نامعلوم رنځ مبتلاشوه چې نه يې څوک په دم پوهيدل او نه په

دارو. په نه خبره به په عوسه کیده. دخپلې غاړې امیلونه به یې شکول. دسرو بنګړي، لښتې او پایزیبونه به یې ماتول. صیب کشرې بي بي ته دډیرو دم ګرو او تاویزګرو دمونه او تاویزونه راوړل خو دکشرې بي بي لیونتوب له یوې ورځې نه بلې ورځې ته پسې زیاتیده. صیب بالاخره په دې راضي شو چې کشره بي بي دښار لوی ډاکټر ته هم لاړه شي. صیب خپل ځوان نوکر چې دصیب دمازدیګرې چکر موټر به یې چلاوه راوغوښت. موټروان ته یې دښار لوی ډاکټر ته دکشرې بي بي دور وستو امر وکړ. دصیب نوکر موټر چالان کړ. کشره بي بي په شاته سیټ کې کیناسته. دموټر په هنداره کې یې دموټروان عکس ته وکتل. قهر ورغی، غاښونه یې وچیچل، هډوکو یې درد وکړ، لکه بې اودې مار تاوه را تاوه شوه. موټروان په نیمکښو سترګو هندارې ته وکتل اوغلي یې په شونډو کې وویل:

ـ الهي خیر! په شونډو راغلې موسکا یې په شونډو کې پټه کړه. ددوی موټر دښار دلوی نفسیاتي او روان شناس ډاکټر د روغتون په دروازه کې ودرید. کشره بي بي په نه زړه دډاکټر کتنځی ته ورغله. ډاکټر دهغې په کتنه (معاینه) پیل وکړ. له کتنې وروسته یې یوه کوچنۍ نسخه ولیکله او کشرې بي بي ته یې وویل:

ـ دانسخه واخله! ته بې غمه اوسه بیخي جوړه یې. ته صرف یو مشکل لرې، هغه دا چې ته باید واده وکړې. که ژر ترژره دې واده ونه کړ هرومرو به لیونۍ شې.

کشرې بي بي په شونډو کې ورو وویل:

ـ واده خو مې .....

ډاکټر په تعجب سره وویل:

ـ څنګه! واده خو دې .....

کشره بي بي نسخه په لاس کې په ډیره بیړه دډاکټر له کتنځی راووته

نسخه یې موټروان ته ورکړه .موټروان څوپاکټه گولۍ راواخیستې او کشرې بي بي ته یې وویل :

ـ ځوبه ..... کورته !

کشره بي بي لږه غلې غوندې شوه او بیا یې وویل:

ـ زما زړه په تنگ دی ، یووار مې له ښار نه وباسه چې هلته تاته یوه خبره هم کوم.بیا به بیرته راوگرځو .خیر دی هسې هم وخت ډیر دی .

کال وروسته چې دکشرې بي بي دغټو او تورو سترگو والا زوی پیداشو دصیب نوکر خدای زده ولې خپلې تورې او غټې سترگې دخلکو له نظره په تورو عینکو کې پټولې .

دډیوې دکشرې بي بي دزوی کیسه ځوان په دې ځای بس کړه .دهغه په خوله کې لاړې وچې وې او نور یې یوه کرښه هم نه شوه لوستلی .په ځان کې ژور شو .لاس او پښې ځینې ورک شول ،دپرښتې دلاس غوټه یې له لاسه وغورځیده .

دبدمعاش ځوان دډلو ملگرو یو ځل دځوان تورو غټو ،غټو سترگو ته بیا دپاخه عمر دنوکر په تورو عینکو کې پټو تورو غټو غټو سترگو ته وکتل اوپه سترگو سترگو کې سره موسکي شول.

۱۹۹۵/۱/۱ پېښور دشپې یوه بجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه تک سپین مرغان

زه مې دمور په زړه کې ناست یم او دمور دارمانونونداره کوم. زما دمور دارمانونو دنیاگی پرما او زما پروړو وروڼو او خویندو ودانه ده. زموږ دبام په تاخ کې ددووتکو سپینو مرغانو ځاله ده .څه موده وړاندې دواړه سپین مرغان په غشو لگیدلي وو. خدای فضل کړی وبلا وه برکت یې نه و ،مرغان دوزرونو په خواکې برسیرن لگیدلي وو.

اوس دسپینو مرغانو زخمونه جوړشوي دي .دادي سندرې وایي او زما دمور په روح کې پټه خوشالي را ویښوي .هغه دي سپین مرغان اسمان ته والوتل ،داسې بریښي لکه زما تک سپین لاسونه ،لکه دوه تک سپین ستوري چې اسمان ته ورروان و .نیمایي اسمان ته ورسیدل ،هغه دي بیرته راوگرځیدل ،داسې بریښي لکه له الوتکې نه چې دوه ښونه زموږ دبام پر خوا راروان وي.

زما دمور په سترگو کې دوه څاڅکي تکې سپینې اوښکې راغلې .مرغان دبام په تاخ کې کیناستل او مورمې خپلې اوښکې دتور پړونې په پیڅکه وچې کړې .مورمې دمازدیگر په لمانځه ودریده. څلوورکعاته لمونځ یې وکړ. دمازدیگر سترگه په غرغره دد

داسمان لمنې تکې سرې دي ،زما دمور په زړه کې یوځل زما دپلار په وینو سور مړی وګرځید .زما پلار ته یې دعا وکړه .بیا یې دبام په تاخ کې سپینو مرغانو ته سترګې واړولې .داځل سپین مرغان د دوو تکو سپینو ګلانو په څیر بریښي .زما مور زما دواده په باب فکر کوي .زما لپاره یې دموروالۍ په مینه او پیرزوینه ډیره ښکلې ناوې په خپل خیال کې جوړه کړې ده .زه او زما ناوې یې دلومړي ځل لپاره یو بل ته مخامخ کړي یو .زموږ پرسرونو یې قرآن شریف نیولی دی .زه او زما ناوې یو بل ته دوه سپین ګلونه دګډ ژوند دمینې په نوم ډالۍ کوو .مورمې لا داخیال نه وي مکمل کړی چې زما پیغلوټه خورپر مور غږ کوي :

ــ مورجانې!نن خو دنکریزو شپه ده موږ ته خو نکریزې خیشتې کړه .دمور خیال مې ړنګیږي او زموږ له لاسونو دوه تک سپین ګلونه لکه دوه تک سپین مرغان الوزي او یوې نامعلومې خواته الوتنه کوي.ماشوم ورورمې هم په خندا خندا کې مورته وایي:

ــ زما خوږې مورکې نکریزې ژر ژر خیشتې کړه.

مور مې بې له دې چې هو ووایي نکریزې را اخلي .په میده شوو نکریزو کې لږې شړومبې هم ګډوي .نکریزې خیشتوي او بیا زما دوړو ورونو او خویندو لاسونه پرې سره کوي .مورمې ماته په ژیړو غوړیو کې ډوډۍ وړه کړې وي او یو یو شخوند په خوله کې راکوي.زه په خنداکې ورته وایم:

ــ مورجانې ستا له لاسه ژیړ غوړي څومره خوند کوي !پام کوه هسې نه چې ګوتې دې ورسره وخورم!

مورته مې هیڅ خندا نه ورځي . کشری ورور مې مورته وایي :

ــ خوږې موریې ! پر لاله باندې هم لاسونه سره کړه .

دمور له سترګو نه دوه څاڅکې اوښکې په ژیړو غوړیو کې څڅیږي .زه مې دمورپه لاس جوړ شوی شخوند تیروم خو داځل یې دباروتو خوند وي.

۱۹۹۵/۲/۱ پینښور دروژې دویمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندري او مرغلري

عشق زما په روح کې پټ دی . عشق زما دشعرونو روح دی .دامهمه نه ده چې هره معشوقه دې خپل مین وپیژني .دیوه هنرمندپر هنر به په ملیونونو خلک مین وي ،په دې مینانو کې به داسې مین هم وي چې د هنرمند له هنر سره به دعبا دت تر سرحده مینه ولري خو هنرمند به خپل مین په خوب کې هم نه وي لیدلی .دمعشوق دابې خبري دمین مقام په هیڅ صورت نه راتیټوي. یوازې خدای دی چې خپل ټول مینان له (الف)نه تر (ی) پورې ټکي په ټکي پیژني .خدای لایتناهي ښکلا او لایتناهي وخت لري. دې په یوه وخت کې بې حسابه مینانو ته ځان رسوي.ده په ټولو رنګونو کې خپله ښکلا ګډه کړې د ه.

ته څه فکر کوې هغه اواز چې روح لکه ماشوم د زیروبم په زانګو کې للو للو کوي کوم جوړوونکی نه لري؟!دامنم چې دموسیقۍ استادان به خپلو شاګردانو ته دموسیقۍ سرګم ورښیي خو دسحر توري بلبلې ته دلاهوتي سندرو سرګم چا ورښودلی دی ؟

زه ډیر ځله په ډیرو ښکلاوو مین شوی یم ،دا ډیرې اوږدې کیسې دي

.زه پوهیږم چې ته دومره وخت نه لرې چې زما دهرې مینې کیسه واورې
.زه نن ستا پرمخ دخپل زړه ور پرانیزم او په یوه پټ راز دې خبروم .ته
راته غوږ شه ،زه له تانه یو سوال کوم.

ـ ته دګڼ ځنګله له هغې تورې بلبلې سره څه نسبت لرې چې ما ته یې
په ماشومتوب کې لاهوتي سندرې ویلې ؟

زه پوهیږم چې زما پردې پوښتنه به ډیره حیرانه شوې وې. ته پرما
دلیوني ګومان مه کوه ،زه لیونی نه یم .ته مې لا لیدلې هم نه وې
چې دځنګله دهغې تورې بلبلې استعاره مې بللې .اوس به موسکه
موسکه کیږې او وایې به چې پر لیوني دشعر پیریان راغلي دي .ښه
پردې خبرو دې چې سر نه خلاصیږي اوس نو ښه راته غوږ شه ،ستا
کیسه پریږدم او دځنګل دتورې بلبلې کیسه درته کوم .

ـ زه عجیبه خوبونه وینم .زه کله کله په ویښه هم خوبونه وینم .داهم
دیوه خوب کیسه درته کوم .نه پوهیږم چې ما داخوب په خوب کې لیدلی
واو که په ویښه ؟غوږ دې دی ؟!

ـ ډیر کلونه وړاندې چې زه یو کلن ماشوم وم دیوه ګڼ ځنګل په لمن
کې له خپل مور او پلار سره په یوه اغزنه جونګړه کې اوسیدم .موربه مې
تر نیمو شپو راته ویښه ناسته وه ،په خواږه اواز به یې الاهو للو للو راته
ویل.چې ښه ډیر الاهو للو للو به یې راته وویل نو ژړا به مې غلې شوه او
دخوب خوږه غاړه به مې پیل کړه .زه به دمور په الاهو للو للو اوده شوم او
مور به مې زما دخوب په ماشومه غاړه دچرګې پر غاړه اوده شوه.زما
دزانګو پړی به یې همداسې له لاس نه تاو کړی و.کله کله به یې په خوب
کې هم تالی راکړې .ما خوبه ټوله ورځ هم په خوبونو تیره کړې وه
،دشپې به په اومه بانه راویښیدم .تنکی بدن به مې له ګلدارو وړیو نه
جوړې شوې سوزنی تغمې تغمې کړ، بیا به راویښ شوم اوژړا به مې پیل
کړه .په ژړا به مې مور لانه وه راویښه شوې چې ژړا به مې غلې کړه .یو

بل خوږ اواز به مې ترغوږ شو .دا اواز دګڼ ځنګله له منځ څخه راتلو ،دتورې بلبلې اواز و.زما دمور دالاهو للوللو غوندې خوږ و.کټ کټ وبه مې خندل .بلبله به له ځنګله نه راغله او زموږ دجونګړې پر یوه اغزنه څانګه به کیناسته.دالاهو للوللو پرځای به یې راته خوږې او ملکوتي سندرې پیل کړې .دې سندروته به داوبه خوراوبو دورا دنجونو غوندې چمبې وهلې .دسپوږمې پلوشې به زموږ دجونګړې له سوریو نه راتیرې شوې او زما سترګې به یې بریښولې .مابه کټ کټ خندل .له مانه راتاوشوې سوزني به سسته شوې وه او په سوزني کې تړل شوي لاسونه به مې راخلاص کړل.لاسونه به مې اخوا دې خوا اچول اوپه وږو ،وږو منګولو کې به مې دسپوږمۍ پلوشې رانیوې. دبلبلې لاهوتي غږ ،دسپوږمۍ پلوشو ،داوبه خور مستو چمبو ،دځنګل شاعرانه زمزمو اوسړوکو وږمو په ګډه تخنولم.کله به یې خوب رانه تښتاوه او کله به یې غلی اوده کړم .موږ ټول یو پربل مین وو.

ډیرکلونه کیږي چې له هغې رنګین اوملکوتي خوب نه راویښ شوی یم خوهغه ښکلا مې دراز دغوټې په څیر دروح په پیڅکه پورې تړلې ده .ګوره چې نور څوک درنه خبر نه شي .نن دادراز غوټه ستا لپاره سپړم .

زه ورو ،ورو رالوییدم ،چې څومره رالوییدم دومره دالاهو للوللو اودځنګله دتورې بلبلې له لاهوتي نغمونه لرې کیدم .بیا دومره لرې لاړم چې دبلبلې غږ مې هم نه اوریده .په دې دې هم سر نه خوږوم چې زه بیا وروسته له ډیرو کلونو څنګه غرونو ،ځنګلونو او دبلبلو دسندرنو وطن ته راغبرګ شوم.داهم اوږدې کیسې دي ،ډیر پیچومي او کږلیچونه لري.زه نه غواړم چې ستا دتنکي اونازولي تخیل پښې په دومره اوږدو پیچوموا و کږلیچونو کې تناکې کړم.

ته پوهیږې چې ما په غرونو ،ځنګلونو او دبلبلې دسندرو په وطن کې څنګه ژوندتیراوه ؟داځل دځنګله دتورې بلبلې لاهوتي سندرو دماشوم

غوندې نه خندولم . داوبه خوراوبو دمستو چمبو پرځای دویر سرودونه غږول. دځنګل زمزمې دغوڅو څیړیو اوغوڅو نښترو له ویرنو ډکې وې . دسندرو دوطن په آسمان کې پولادي شاهینان ګرځیدل . دډیرو شاهینانو منښوکې دبلبلو دسندرو په وینو سرې وې. دډبرې ناسپړلې غوټې له ګل کیدو نه مخکې رژیدې . ته پوهیږې چې ژوند څومره بدرنګ شوی و. زما ښکلا پرست روح ته دبدرنګۍ دیوانو بدرنګې او کرغیړنې خولې وازې نیولې وې . دلته دښکلا دښا پیریو وزرې سوځیدې . زما دوجود ټوله سیمه دبدرنګۍ ددیوانو په لاس کې وه . یوازې عشق و ،چې دبدرنګۍ پرضد دبغاوت په تور یې په زخمي لاسونو کې دبدرنګۍ زنځیرونه اچول شوي وو. زما ټول وجود بوږنیده او مادبدرنګۍ یو کوچنی منښود هم نه شو زغملی. نژدې وه چې زما زاره وچوي. هغه لوی جمال پر ما څومره مهرباني وکړه چې ستا خوږ غږیې د هواد څپو پر اوږو راوړ ، یو غیبي او ملکوتي غږو. کټ مټ د هغې بلبلې د غږ په څېرو ، چې ما ته یې په ماشومتوب کې سندرې ویلې. لکه چې لوی خدای ستا ټوله ښکلا په یوه سندره کې غوټه کړې وه او دا غوټه یې د یوې تورې بلبلې په روح کې پرانستې وه. زما عشق ستا د ښکلا د سندرې په اوریدو د بدرنګۍ ټول زنځیرونه وشلول ، د بدرنګۍ ټول دیوان یې مات کړل او بیا زما د وجود په قلمرو کې د ښا پیریو وزرې نه سوځیدې. ته زما د تخیل ځنګل ته د یوې تورې بلبلې په جامو کې راتلې. ما ستا لپاره د خپل ژوند په لویه د ښته کې د عشق د ګلونو تخمونه وشیندل دا ګلونه ورو ، ورو را لویېدل ، په څو کلونو کې یې غوټې وکړې او له شپږو اوو کلونو وروسته یې ګلونه وغوړیدل.

اوس نو زما مینه او تلوسه بیخي پخه شوې وه. اوس مې ستا په تصویر یعنې د ځنګل په هغې تورې بللې چې په روح کې یې ستا د سندرو غوټه پرانستل شوې وه هم مینه نه ماتیده. دا زما د لیونۍ مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبوري وه چې زه په تا پسې راشم. ماستا د تصوير ونو وطن پريښود. ما د بلبلې وطن غرونه او ځنګلونه پريښوول او ستا په اصل پسې ښارونو ته راغلم. ما ستا د پټې مينې په نوم په ښار کې هم ډيره موده تېره کړه خو ته مې ونه ليدې.

ته پوهيږې چې د اصل او تصوير تر منځ د بېلتون ژوند څومره سخت دی؟ زما د ژوند د لويې دښتې ګلونه سره اورونه شول. ما هميشه ستا لټون کاوه چې ودې وينم او داورونو ګلونه دې په غېږ کې وشيندم. خدای شته چې هميشه مې يا دولې، کله ستا تصوير چې په غرونو او ځنګلونو کې له تورې بلبلې سره پاتې و او کله هم ستا اصل چې زما د اوسيدو په لوی ښار کې رانه ورک و.

توبه مې دې وي خدايه! کله بر چې په لمانځه ولاړوم. هم په خيال کې به مې ته ګرځيدې. د روژې د مبارکې مياشتې د ماسپښين پرلمانځه ولاړ وم چې په زړه کې راوګرځيدې. رکوع ته لاړم، سجدې ته لاړم ،په لمانځه نه پوهيدم خو ته مې په زړه راوريدې. زه دويمې سجدې ته لاړم چې د خپل زړ ګوتې له درزا سره مې د چا د پښو خوږه ښکالو هم واوريده. ما سلام نه و ګرځولی چې ته راغلې او په ډير ادب کښيناستې. ښې خواته د سلام ګرځولو سره سم مې پر تا سترګې خوږې شوې. ستا رنګ د ځنګل تورې بلبلې ته نژدې و. ته دومره ښکلې نه وې لکه څومره چې ما د خپل تخيل په سندريز قلم انځور کړې وې. خو ستا سندريز تصوير زما روح ،زما زړه اوزما سترګې دومره ښکلې کړې وو چې ته را ته ډيره ښکلې وبريښيدې. ته به کله کله راتلې او ما به ستا په اصل ستا د تصوير مينه ماتوله. اوس مې ستا په تصوير زړه سوځيده. اوس مې د هغې بلبلې هجران ګاله چې ماته يې سندرې راوړې. ته يوه ورځ راغلې غټې غټې اوتکې تورې سترګې دې د ځنګل د هغې تورې بلبلې غوندې له سندرو نه ډکې وې. تا دوه درې واره خپلې تورې غټې ،غټې سترګې خوږې،

خوږې او درنې، درنې راپورته کړې. په دې وخت کې ستا سترګې دوو پیغمبرانو ته ورته وې چې په تکو تورو وریښمینو جامو کې پرتکو سپینو براقونو سپاره، نوي نوي د ښکلا له خدای نه راغلي وي. خو نه پوهیږم ته ولې داسې ژربې سندرو شوې. ته زما د ژوند د لویې دښتې د عشق داورنیو ګلونو یوه پاڼه هم په خپله غیږ کې نه شې زغملای. ته په دې اورنۍ دښته کې یو ګام هم نه شې اخیستی. ستا پښې لولپه کیږي.

هغه ورځ مې ولیدې چې لپه دې له مرغلرو ډکه وه خو د روح ځولۍ دې له سندرو تشه وه. د ځنګل د توري بلبلې په سندرو کې ستا د تصویر یوه سندره هم نه وه پاتې. زه پوهیږم چې ته اوس ډیره ښکلې شوې یې خو زما شاعرانه او لیونی عشق درته ګوري هم نه، ځکه چې مرغلرې ډیرې لرې او سندرې هیڅ نه لري.

پېښور ۱۳۷۲/۸/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوه قاف د یوان

خلک به په خوږو خوبونو ویده وو، خو د غنچې ابۍ په جونګړه کې به همداسې ډیوه بلیده. ابۍ به تر نیمو شپو سندرې ویلې. د هغې اوا زخوږ او له درده ډک و. که په شاوخوا کورونو کې به ماشومانو ژاړ پیل کړه نو میندو به د ابۍ په سندرو غلي کول.

اوس ابۍ پر ټول کلي ګرانه وه. اوس چا غنچه نه بلله، لویو اووړو به ابۍ بلله. ابۍ اوس زړه شوې وه او ددې دځوانۍ کیسې هم زړې شوې وې. دځوانۍ دوخت ګناهونه یې زاړه شوي او دهیریدو په ګردونو کې پټ وو. په پیغلتوب کې یې یو پټ مینتوب تیر کړی و. هغه د کلي په یوه ښایسته ځوان شین ګل مینه وه.

غنچه خپل پلار په یوه لرې کلي کې واده کړه. له واده نه څو کاله وروسته یې میړه مړ شو. له لیورونو سره یې ژوند نه تیریده. دوباره یې له شین ګل سره لاره جوړه کړه او یوه شپه د شین ګل کره راوتښتیده. له شین ګل سره یې خوږ ژوند پیل کړ. کله کله به چې د چم ګاونډ ښځو له غنچې سره جنګ وکړ غنچې ته به یې پیغورونه ورکول او ورته ویل به یې

چې مینې مرداري.

غنچې به شونډې بوځې کړې او دچا پیغور به یې په پیغور ونه باله. په یو ډول فاتحانه اندازبه خپل کورته راغله او شین گل ته به یې غیږه ورکړه ،په خندا خندا به یې ورته ویل :

ـ شین گله ، نن یې بیا ستا پیغورونه راکول ،راته ویل یې چې مینې مرداري .شین گل به تسله ورکوله او ورته ویل به یې:

ـ څه چې وایي ،وایي دې ، زه اوته بې له خدایه دچا څه پروا لرو .بیا به دواړه له خندانه شنه شول او دټولې دنیا په پیغورونو به یې ملنډې ووهلې .

هغوی دواړو خوشحاله ژوند تیرولو .چې شین گل به په ځمکه کې یوې کوله غنچې به دشین گل ټوپک له ځان سره نژدې ایښی و.څاربه یې کاوه چې شین گل څوک ونه وژني .دوی څوکاله یو ځای تیر کړل .ددوی به سر پر سر لونې پیدا کیدې .یوه ورځ شین گل ورته وویل :

ـ غنچې! کاشکې خدای یو زوی راکړی وای که بیا یې زه وژلی وای هم ارمان به مې نه وای .غنچې ورته وویل:

ـ ته لیونی خبرې مه کوه ،مرگ اوژوند دخدای په لاس کې دی .که یې زما په تور ووژلې زه به پر تا باندې زیارت جوړ کړم او ستا دزیارت منجاوره به شم چې ستا پر قبر مې ووژني.او که دواړه یې ووژلو قبرونه به مو څنگ په څنگ وي او په اخرت کې به سره یو ځای وو.

ـ غنچې ،په خدای قسم خورم چې ما ووژني زه به خوشاله شم یوخو به زما په بدو کې زما وریرونه نه سوځي او بل به داخرت له عذاب نه خلاص شم .

غنچې ته په دې خبرو قهر ورغی:

ـ دا ډارنې خبرې مه کوه !یو کوری غوښې او هډوکي څه په جنت کې څه په دوزخ کې .څوک له هغې دنیا نه راغلي دي خدای به له چانه

راضي وي؟تاخو جاريې شم قران شريف هم ويلی دی په دې خبرو نه پوهيږې؟ زه خو کونډه ښځه وم چې تا ته راغلم. زه خو څه ميړو ښه نه وم ماله ملا نه پوښتنه کړې ده.

شين گل د غنچی خبروته په ډير غور غوږ ونه نيولی وو:

ـ ښه نو ملا څه درته ويل؟

غنچې له نازه ځان په غوسه کړ:

ـ ته خو مې خبرو ته پريږده چې زه د ملا خبره درته کوم ، ته بيا په خبرو کې راولويږې. تا ته ځان دنکلونو ادم خان ښکاري، څومره به ځان ته غره وې چې غنچه پر مامينه شوې وه ،له ډيرې مينې نه ليونی شوې وه او زما کره راغله.

له دې خبرو سره غنچه له خندانه شنه شوه:

ـ شين گل به له دې نه نه وي خبر چې دا د نصيب او قسمت چارې دي کنه غنچه چيرته او شين گل چيرته؟؟

شين گل هم له خندانه شين شو:

ـ ښه، دا د نصيب او قسمت چارې دي ؟ نصيب خو زين کړی آس دی چې واگې يې ستا په لاس کې دي ،هر چيرې يې چې بيا يې ځی. چې غنچه د نصيب پر زين کړي آس د شين گل کره راغله نه پوهيږم چې دې کارته څه ووايم ؟ زه خو وايم چې راځه ددې کار پوښتنه هم له ملانه وکړو.

پردې خبره دوی دواړو دومره سره وخندل چې خندا وې يې په کوڅه کې واوريدل شوې. په کوڅه کې ناستو ښځو يوې بلې ته سره وکتل يوې ښځې وويل.

ـ دا څه بې شرمه ښځه ده!دومره خندا.....

يوې بلې ښځې وويل:

ـ وی خورې ته هم ليونی يې ، هغه متل دې نه دی اوريدلی چې :په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویاله توپ وکړي لښتی څه شی وي؟

شین گل بیا غنچی ته مخ ور واړ ولوا وورته ویې ویل:

ـــ ته هم له ځانه دنکلونو در خانی مه جوړوه، دومره نازونه مه کوه، دا ووایه چې ملا څه درته وویل چې د زړه غوته مې خلاصه شي.

غنچه موسکه شوه:

ـــ درته وایم یې شین گله، ته مه وار خطا کیږه:

ـــ کله چې زما میړه مړ شونو لیورو نو مجبورولم چې په دوی کې له یوه سره نکاح وتړم. دې کار ته زما زړه نه کیده، زه به دوی وهلم او ټکولم. یوه ورځ یې په ډیرو وهلو لاس را باندې مات کړ. یوه شپه مې نیت وکړ چې غاړې ته زندی واچوم، بیا مې کلیمه وویله ماوې چې دوزخ ته به لاړه شم. بله ورځ مې د کلي له سپین ږیري ملا نه په چل چل کې پوښتنه وکړه چې لیورونه مې همیشه وهي ترتې او راته وایي چې په موږ کې له یو سره نکاح وتړه.

ملا صاحب اول زما په خبره په سوچ کې لاړ وروسته یې راته وویل:

ـــ لورې! په شریعت کې پر کونډه ښځه باندې ظلم کول ډیر ناروا کار دی. د کونډې خوښه ده چې له هر چا سره یې زړه غواړي نکاح وتړي.

بیا ملا صاحب د نصیحت په ډول راته وویل:

ـــ گوره لورې! په دوی کې دې چې له هر یوه سره زړه وي نکاح وتړه، چې اولادونه دې پیدا شي انشاء الله ژوند به دې ښه شئ.

دا د پښتو دود دی بیا به خلک پیغورونه در کوي.

ماته ملا صاحب ډیر نصیحتونه وکړل خو ما د نصیب نیلی زین کړ او واگې مې یې د شین گل په لاس ورکړې. د دوی خندا بیا په کوڅه کې خوره شوه او یو ځل بیا په کوڅه کې پنډو ښځو یو ې بلې ته سره وکتل.

شین گل غنچې ته وویل:

ـــ په خوله دې برکت شه زما پر زړه خوورېځې پنډې وې اوس مې ایله

زړه سپک شو.

شین گل له ځایه را پاڅید په سترگو کې یې عجیبه ځلا بریښیده. د غنچې پر مخ د حیا سره راغلل او په موسکا یې وویل:

ـ څه کوې شین گله لیونی شوی خو به نه وې؟

شین گل په تړتړی ژبه وویل:

ـ لیونی خو نه یم خو.....

خبره یې نیمگړې پریښوده. غنچه یې کلکه په غیږ کې ونیوه او پر مخ یې سخته ښکل کړه. غنچې ورته وویل:

ـ په دی سپینه ورځ... لیونی شوې شین گله!

شین گل داځل په زړ ورتیا ورته وویل:

ـ ولې لیونی شوم؟ څه غلا خو نه کوم، همدا اوس دې د ملا صاحب مسئلې راته ونه کړې...

د شین گل او غنچې ژوند د یوې نه تما میدونکې مینې په غیږ کې تیریده. دوی دواړو به د ځمکې کارونه په گډه کول. څنگ په څنگ به یې لوونه کول. چې شین گل به یوې کوله غنچې به ماله کوله، د پټیو تر منځ پولې اوبریدونه به یې غړل. کله کله به یې د شین گل ټوپک په غیږ کې ایښی و او څار به یې کاوه چې شین گل څوک ونه وژنې.

د اوړې تکنده غرمه وه د شین گل ټوپک په پټې کې د ولاړې ونې په شاخ کې را ځوړند و. شین گل او غنچې د غنمو لوونه کول. د غنچې د بنگړو شرنگاه خوره وه. کله کله به د بنگړو د شرنگا په منځ منځ کې د شین گل او غنچې لرونه له یو بل سره ولگیدل او د بنگړو پر شرنگا به یو بل شرنگ هم ور زیات شو. ناڅا په د ټوپکو گنې ډزې و شوې. غنم په وینو سره شول. غنچې کړیکه وکړه شین گله! ... په پورې هورې غرونو کې انگازه شوه: شین گله... انگازه ورو ورو غلی شوه، د غنچې د کمیس پرلمنه اور بلیده. شین گل نری زگیروی کاوه. لوریې له لاس نه

لویدلي و او د غنمو پر کوده يې سرا ینبی و. له غنچی نه لاس او پښې ورک شول. د کمیس اور يې مړکړ او شین گل يې په غیږ کې ونیو. د مخامخ غونډۍ خواته يې له ډیره قهره سترگې واړولې. د شین گل تپوک يې دونې په شاخ کې ولید. د شین گل سرې غلی د غنمو پر کوده کیښود لکه لیونی د تپوک خواته په منډه ورغله تپوک يې راواخیست اود غونډۍ پر خوا يې گنې ډزې وکړې. ډزو يې ویروونکې او غم انگیزه انگازه خوره کړه. څو شیبې وروسته کلیوال راورسیدل ځینې کلیوال د شین گل په دښمنانو پسې په چیغه لاړل او ځینو شین گل په کټ کې راواخیست.

د شین گل په لاس او تټر کې مردکي لگید لي وو. شین گل يې د اوښ په شا د کلي له غرونو اخوا واړاوه او یوه لرې ښار ته يې ورساوه. هلته يې په پټه علاج پرې کاوه چې د ښمنان يې له ډاکترانو سره لارې جوړې نه کړي او د مرگ زهر په دوا کې ور نه کړي.

څو میاشتې وروسته شین گل یوڅه ښه شو خو هغه پخوانۍ مزه يې نه وه. یو لاس يې هم گوډ شو. د ځمکو کارونه يې ټول غنچې ته پاتې شول.

شین گل له یوې ورځې نه بلې ته کمزوری کیده او دوه کاله وروسته يې له دنیا نه سترگې پټې کړې. غنچه یوازې د الله هیلې ته پاتې شوه. دشین گل و ریرونو په نژدې کلو او هدیروکې پسونه حلال کړل. ننواتې او جرگې يې وکړې چې د شین گل دښمنان نرخ ته ور سره کینوي. د نژدې کلو مشرانو د شین گل دښمنان نرخ ته ورته کینول. د شین گل وریرونو او عزیزانو د شین گل پر دښمنانو داسې دعوه وکړه چې گنې شین گل د دوی د تپوکونو له مردکیو کمزوری شو او د همدې مردکیو له امله مړ شو. مقابل طرف په ځواب کې ویل چې له مور نه يې ښځه بیولې ده او په ښځه کې نرخ کول تاسې و گورئ چې څنگه خبره ده؟ بله خبره داده چې

زموږ پر دوی باندې د ښځې د بیولو په بنیاد یو مړی پروت دی. دا رښتیا ده چې موږ خپل غچ له شین گل څخه اخیست خو شین گل زموږ له خوا له زخمي کیدو نه دوه کاله وروسته پر خپل مرگ خدای مړ کړ. که بیا هم دوی وایې چې زموږ له خوا مړ دی دوی دې په تور او سپین اووه قسمونه راته وکړي موږ به له خپل مړي تیر شو او یوه پرده به موجوړه شي. که بیا دوی او د دوی نژدې تربوران پر غوړیدلي قرآن اووه قسمونه نه شي راته کولی بیا خو معلومدار له موږ سره کبر کوي. له دې پرته موږ هیڅ نه وایو او موږ بې وسه یو. که وس مو پیدا کړ د خپلې ښځې پر سر د مړي پوښتنه به وکړو...

جرگه ناکامه پاڅیده او لانجې لا کنجونه پیدا کړل. اوس به د غنچې پر سر د شین گل وریرونه هم ویریدل او آزاد به نه شول گرځیدای. د دوی ټولو چلند له غنچې سره ډیر بد و. د غنچې د عمر کاروان گړندی گړندی د زړبودی پر لور روان و

* * *

له غنچې نه زړه ابی جوړه شوه. دوختونو خزان د غنچې د ښکلا بڼ تالا کړ، لونه یې واده شوې ځمکه یې میراث خورو ته پاتې شوه. د لونو د ولور په پیسو به یې ژوند تیراوه. د شپې خوب یې نه و، شپه به یې په غمجنو تپو او سندرو رونوله. ډیر وخت به یوه اته کلنه نجلی په جونگړه کې ورسره ناسته وه. نجلی د ابی د میراث خورو لور وه. د نجلی نوم غوړگه و. د غوړگې مخ سور او سپین او ښایسته غټې سترگې یې لرلې. هغه ډیره شوخه وه. چې کله به یې کومه شوخي وکړه ابی به ښیرې ورته کولې، ښیرې یې د ناز ښیرې معلومیدې او د بد زړه نه نه وې:

ـ ځوانی ته مه ورسې. ته په تبرونو غوڅه غوڅه شې.

چې لاس به یې ورپسې ورسیده په مخ به یې څپیړه ورکړه. غوړگې به کټ کټ وخندل د ابی په غاړه به یې لاسونه تاوکړل، ابی به یې د چرگی

پر غاړه راځملوله. غوږګي به ورته وويل:

ـ څنګه شوې دومره زور خو نه لرې.

ابۍ به زارۍ ورته وکړې:

ـ بس دی لورې پرې مې ږده ته خو مې خوږه لوريې ښايسته هلک به درته کوم.

غوږګي ته به بيا قهر ورغی ،د ابۍ پر مخ به يې وروغاښونه ولګول:

ـ ښه نه يې درته کوم بس دی لورې نوره به جوړه سره وکړو .

بيا به دواړه سره جوړې شوې. غوږګي به ابۍ ښکل کړه او ابۍ به د غوږګي پر سر لاس تير کړ:

ـ ابۍ دې جارشي ته خو زما ښکلې پيشو يې پيشو.

يوه ورځ دوی بيا شور جوړ کړی و. د غوږګي مور چې د دوی شور واوريده په منډه منډه ورغله. د جونګړې په دوروازه کې يې ور غږ کړ:

- غوږګي! وه غوږګي!

غوږګه د غوا په اخورکې پټه شوه. د غوږګي مور نيغه جونګړې ته ورننوته. په ترخه لهجه يې ابۍ ته وويل:

-غوږګه څه شوه ؟

ابۍ ځواب ورنه کړ. غوږګه په اخورکې له خندا نه شنه شوه. مور يې ورپسې ورغله له لاس نه يې ونيوه او پر مخ يې سخته څپېړه ورکړه:

ـ چې ابۍ څه کوډې درباندې کړې دي:

غوږګي شونډې بوڅې کړې، د مور پيښې يې وکړې:

ـ کوډې درباندې کړې دي.

غوږګه يې په کشولو کشولو د ابۍ له جونګړې را وايسته ورته ويې ويل:

ـ که بيا دلته راغلې وې غوږونه به دې غوڅ کړم غوږونه پوه شوې ؟!

غوږګي په ژړغوني اواز وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ راځم بیا راځم!

یوه ګړی وروسته بیا د ابی جونګړې ته راغله. ابی ژړل او هیڅ خبرې یې نه کولې. غوږګې د ابی له غاړې نه لاسونه تاو کړل:

ـــ ابی ولې ژاړې؟

ـــ لورې سر مې خوږیږي.

بیا غوږګې ورته وویل:

ـــ ابی ګلې ما ته د ښاپیریانو کیسه ووایه.

ابی یې له زنې نه ونیوه، ابی خبرې نه شوې کولای او سلګۍ یې وهلې:

ـــ ابی ګلې کیسه خو راته وایې کنه!؟

ـــ ابی دې جار شي د ښاپیریانو کیسه خو دورځې نه ویل کیږي د ښاپیریانو کیسه خو د شپې ویل کیږي، څوک چې د ښاپیریانو کیسه دورځې وایي بیا د دیوان ور پسې راځي او کوه قاف ته یې وړي تا به هم دیوان کوه قاف ته را نه یوسي. پو هیږې چې زه هم د دیوانو کوه قاف ته وړې وم، د اوسپنې په پنجره کې یې بنده کړې وم، په څه خوارۍ مې پنجره ماته کړه او را وتښتیدم.

بیا غوږګې ورته وویل:

ـــ ابی تا به هم دورځې د ښاپیریانو کیسې اوریدې؟

ابی ترخه خندا وکړه:

ـــ هو لورې.

غوږګې بیا زارۍ ورته وکړې:

ـــ مه کوه ابی ګلې کیسه راته ووایه که د دیوانو یووړم زه به هم تا غوندې د اوسپنې پنجره ماته کړم او را وبه تښتم.

ابی و خندل او ویې ویل:

ـــ لورې ته خو کوچنۍ یې ته هغه کلکې پنجرې نه شې ماتولای، زه

چې ښه ځوانه وم هم په څه خوارۍ مې پنجره ماته کړه او په توره شپه کې راوتښتیدم. که د یوانو لیدلې وای زما وینې به یې غړپ کړې وای.
دغورګې په خیال کې تور دیوان ورغلل ،یو څه وویریده خو د کیسې داوریدلو تلوسه یې مړه نه شوه او په سوچونو کې لاړه .ناڅاپه له خندانه شنه شوه ،دخوشحالۍ چک چکې یې وکړې او ویې ویل :
ـ ابۍ په یاد مې شوه د درخانۍ کیسه راته ووایه ،په هغې کې خو دیوان او ښا پیریان نه شته
ابۍ یې پر سر لاس تیر کړ :
ـ لورې سرمې درد کوي چې د سر درد مې کرار شي بیا به یې درته ووایم ،اوس ورځه کورته لاړه شه موربه دې بیا وهي.
غورګه خپل کورته راغله ،دبوسو کوټې ته ننوته ،د پښو د ګوتو پر سرونو په کوټه کې غلې غلې ګرځیده ،یوشی یې د کمیس په لمنه کې پټ کړ .له کوټې راووته او دنژدې کوڅې دکاندار ته ورغله. د کمیس له لمنې نه یې هګۍ راوایسته په وړه ژبه یې دکاندار ته وویل:
ـ د سر درد ګولۍ غواړم .
دکاندار دوې دانې په کاغذ کې بند ګولۍ ورکړې .غورګه په منډه منډه دابۍ کره ورغله .سا یې بنده بنده کیده .په ډیرې خوشالۍ یې ابۍ ته وویل:
ـ ابۍ ګلې دادې د سر درد ګولې مې درته راوړې دي .دبوسو په کوټه کې مې دچرګې هګۍ پټه کړه تا ته مې ګولۍ پرې وکړې اوس یې وخوره سر به دې دستې ښه شي .دا اصیلې ګولۍ دي چې مورته مې څه ونه وایې !
ابۍ غورګه په غیږ کې ونیوه ښکل یې کړه .
ـ ابۍ دې جارشي په دې وړو وړو خبرو ته مې څومره هوښیاره لوریې.

ابی له توري کتوي نه برغولی جگ کړ، دوي داني هګۍ يې راواخيستې :

ـ غورګې لورې داواخله يوه هګۍ په هماغه ځای کې کيږده چې تا هګۍ ځينې را اخيستې وه او پربله هګۍ له دکاندار نه خواږه درته وکړه .زه به ستا ګولۍ وخورم چې سر مې ښه شي بيا به ډېر نکلونه درته وايم ښه ابی دې جار شي !دا خوله دې رانژدې کړه چې ښکل دې کړم.

غورګه يې ښکل کړه .غورګې هګۍ را واخيستې او دابی له جونګړې راووته.

*** *** ***

داڅو ورځې ابی ته سختې انديښنې ورلويدلې وې .کوڅې ته هم نه راوته او له چاسره يې ډېرې خبرې هم نه کولې .دجونګړې درواز يې په ځان پسې تړلې وه .هغه يوه پټ غم ځوروله .ژوند ورته ددیوانو پولادي پنجره ګرځيدلی و .کله کله خوبه يې په زړه کې وروګرځيدل چې دا پنجره هم ماته کړي او له دې پنجرې نه هم چيرته لرې وتښتي .

له جونګړې نه راووته ،چوپه چوپيا وه ،خلک په خوږو خوبونو ويده وو .پرې يې راواخيست ،دجونګړې په چت پورې يې وتاړه ،غاړې ته يې کړې جوړه کړه ،ناڅاپه يې په زړه کې څه وروګرځيدل ،کليمه يې وويله او کړې يې له غاړې نه لرې کړه اودس يې تازه کړ ، له تاخ نه يې دشين ګل قران شريف ور واخيست ښکل يې کړ. ټوله شپه يې نفلونه وکړل .دنفلونو ثواب يې په شين ګل پسې وباښه.سهار يې خپل زوړ صندوق پرانيست .دشين ګل نښې اوځينې نور کالي پتري يې په خپله زړه بوخڅه کې سمبالول چې ناڅاپه غورګه جونګړې ته ور ننوته .دغورګې سترګې په پرانستې صندوق کې پر لونګينو ځونډيو ولګيدې.

ـ ابی ګلې داځونډې دچا دي ؟

ـ غورګې لورې دامې تاته ايښې دي .کليمه دارې روپۍ مې هم

درته ایښې دي .دازما دناوې توب کالي پتري دي .

کلیمه داري روپۍ او ځونډي یې غورګې ته ورکړل .دغورګې زړه بنکې وکړې داهرڅه یې کورته یوورل اوپرخپلو هغو نویو جامو یې تک وهل چې نوي نوي یې پلار ورته راوړې وې .شیبه وروسته یې له ځونډیو ،کلیمه دارو روپیو او لونګینو ځونډیو ډکې جامې واغوستې .کلیمه داري روپۍ اولونګین ځونډي یې پر تتر راځړیدل اوله وړو وړو جینکو سره مشغولیده .جینکو به چې دغورګې ښایسته جامو ،کلیمه دارو روپیو ،او لونګینو ځونډیو ته کتل له غورګې سره به یې رخه کیده .په زړونو کې به یې ویل :

ـــ کاشکې زموږ هم داسې ښایسته جامې وای.

نن ورځ پر غورګه باندې له ډیرې خوشحالۍ نه دسترګو په رپ کې تیره شوه خو دابۍ لپاردکال غوندې اوږده وه.مازدیګر مهال ابۍ ژر ژرخپل سمبال شوي کالي په بوخڅه کې ځای په ځای کړل .غواته یې په زاړه دیګ کې اوبه کیښودې .له چت نه په راځوړند پړي یې وس وکړ خو خلاص نه شو ،همداسې یې پریښود .دشین ګل قران شریف یې ښکل کړ .له جونګړې نه غلې راووته ،دکلي دهدیرې پر لاره روانه شوه.دکلي او هدیرې پرسر دلمر وړانګې غم انګیزې په نظر ورغلې .دشین ګل قبر ته ورغله او پر قبر یې سرولګاوه ،دعاوې یې وکړې ،پر قبر یې روپۍ وشیندلې .ښه ډیرې وژړل .کله یې چې زړه یو څه سپک شو نو دغرغرې دلمر دغم انګیزو وړانګو په غیږ کې وارخطا وارخطا له غرونو اخوا دیوه لرې کلي پر خوا روانه شوه.

نن شپه ټول کلی په یوه غمجنه چوپتیا کې ډوب و.دابۍ سندرې نه اوریدل کیدې .ابۍ دخپلو ټولو سندرو په مرۍ کې زندۍ اچولې وه.نن شپه دکلي ماشومانو ژړل .هغوی دمیندو په بانو نه غلې کیدل.

غورګه له ډیرې خوشحالۍ نه له جامو سره په کټ کې څملاسته .له

لونګینو ځوندیونه دغنچې د پیغلتوب بوی ورتلو .سهار په لمر څرک غوږګه له خوبه راپاڅیده ،نکریزې یې په لاسونو پورې وچې شوې وې .لاسونه یې په کوچو غوږکړل اوسره شغله یې وکړه .دابۍ جونګړې ته ورغله چې په نکریزو سره لاسونه ابۍ ته وښیي .جونګړې ته ورننوته ،دابۍ غوارمباړې وهلې .په چرګۍ کې اورنه بلیده او ابۍ په جونګړه کې نه وه .غوږګه وویریده او په منډه منډه خپل کورته راغله .خپلې مورته یې وویل چې ابۍ په کوټه کې نه وه .غوږګه او مور یې دواړه دابۍ جونګړې ته ورغلې .دابۍ غوا همداسې رمباړې وهلې .دابۍ دکټ پر سر همداسې زندۍ راځوړنده وه .دغوږګې مور غوږګه کلکه په غیږ کې ونیوه ،ښکل یې کړه او په زوره زوره یې وژړل :

ـ ستا ابۍ لکه چې مور د همیش لپاره پریښوو .

غوږګې په ماشومانه انداز خپلې مورته وویل:

ـ مورجانې ابۍ به دکوه قاف دیوانو وړې وي!

مور یې ترخه خندا وکړه:

ـ هو لورې ، ابۍ دکوه قاف دیوانو وړې ده .

غوږګه اومورې دواړه خپل کورته لاړې .په ټول کورباندې یو ژور غم خپورو .ددوی خپل خپلوان له ټوپکو سره راغلي وو ،سپین سرې ښځې هم ورسره راغلې وې .دوه غټ غټ پسونه یې راوستلي وو او په مورې یو پورې یې تړلي وو .دپسونو په سترګو هم غم غوږیدلی و .هیچا خبرې نه کولې .له درنې چوپتیا وروسته یوه سپین ږیري وویل:

ـ نور ځنډ نه دی په کار .دهغوی کلی ډیر لرې دی ،بسم الله کوئ .پر غوږګې باندې ښایسته کالي واغوندئ چې له ټولو جینکونه ښایسته شي .سپین ږیري غوږګې ته مخ ورواړاوه :

ـ غوږګې لورې مور او تاسې ټول واده ته ځو .

غوږګه ډیره خوشحاله شوه ،په زړه کې وروګرځیدل :

ـ که ابی دکوه قاف دیوانو نه وای وړې هغه به هم راسره تللې وای .له ټولو ښځو نه به یې ښکلې سندرې ویلې وای .دې به سندرې راته ویلای مابه گډا ورته کړې وای.

دوی ټول روان شول.دکلي پر بامونو ناستو پیغلو اوزړو په حسرت حسرت ورکتل.دډیرو سترگې له اوښکونه ډکې وې .یوې زړې ښځې دغورگې مورته وویل چې ته نوره مه راځه.دغورگې موریوه سخته کړیکه وکړه.غورگه یې ټینگه په غیږ کې ونیوه ،پر سترگواو مخ یې ښکل کړه :

ـ ورځه پر خدای مې سپارلې یې ....ښځه چې خدای پیدا کړې ده دپردې کور ده.مړه دې وای خو.....

خبره یې په مرۍ کې غوټه شوه .غورگې هم چیغې وکړې :

ـ چې مور مې نه ځې زه هم واده ته نه ځم .دمور په لمن پورې یې منگولې کلکې ښخې کړې .یوچا دمورله لمنې راوشلوله .غورگې چیغې او سورې وهلې :

ـ پرې مې ږدئ زه واده ته نه ځم.....پرې مې ږدئ.

دټولو له سترگونه اوښکې بهیدې .غورگه یې له لاسونو ټینگه نیولې وه او په کشولو کشولو یې دهغه لرې کلي په لورې روانه کړې وه .له لونگینو ځونډیو نه یې دغنچې ذ پیغلتوب بوی ختو.دهغو دوو پسونو هم تگ ته زړونه ،نه کیدل او په کشولو کشولو یې روان کړې وو.له غورگې نه دابۍ داخبره هیره وه چې ورته ویلې یې وو:

ـ دکوه قاف دیوان به دې داوسپنې په پنجره کې بنده کړې ،ته خو کوچنۍ یې داوسپنې پنجره به هم نه شې ماتولای.

۱۳۷۱/۸/۹ خیبر پلازه پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناهید کتاب خپرولو موسسې له خوا خپاره شوي اثار

د کتاب نوم	د لیکوال نوم
۱- ساړه بادونه :	د اسدالله غضنفر د لنډو کیسو مجموعه
۲- تبجنه سپوږمۍ:	د پروین ملال د شعرونو مجموعه
۳- څلورمه لار:	د ایمل پسرلي د لنډو کیسو مجموعه
٤- زموږ د کلي پاڼې:	د زرین انځور د لنډو کیسو مجموعه
٥- دلته لږ زموږ اور، بل دی:	په لندن کې د میشتو پښتنو لیکوالو د کیسو ګډ جونګ
٦- ماته شپیلۍ :	د نازک خیال شاعر استاد محمد صدیق پسرلی غزلیزه مجموعه
۷- له نرګسه تر نرګسه:	د کاروان د لنډو کیسو مجموعه

PROPERTY OF ACKU 5388

(c) ketabton.com: The Digital Library

From Daffodils To Daffodils
A Collection of short Stories

By:

Pir Mohammad Karwan

Publisher:

Nahid Book Publishers
Series No: 7

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library